په خدای سو ګند! ماته دهغه دوژلو حکم داسي ذات کړيی، که هغه ستا د وژلو حکم هم وکړ، په الله قسم چې ستا سر به هم ستاله تنې پريک کړم.

حويصة ددې په اوريدو ووېل: الله لو آمر کَ محمد بقتلي لقتلتني؟

په خدای قسم !که تاته محمد ځما دوژلو حکم وکړي ته به ما هم ووژني؟

محصیه وویل: نَعم والله لو آمرنی بضَربِ عُنقِک لَضَربتُها

هو! په الله سو ګند که ماته هغه ستا دسر پریکو لو حکم وکړي زه به خامخا تانه سر پریکوم

یعني درسول الله (ﷺ) دحکم وروسته د وړې زړې اومره هم ستا دوروولې فکر به ونکړم، حویصه ددې ځواب په اوریدو حیران شو .ناڅاپه دهغه له خولې ووتل :

په خدای سوګند دی، دا دین خامخا حق دی، چې دخلکو زړو ته دومره ننوزي چې دبدن ټولو رګونو ته سرایت کوي .له دې وروسته حویصة درسول الله (ﷺ) ته ورغی او د زړه نه یې اسلام قبول کړ.

دزید بن حارثه (رضي الله عنه) سریه :

دبدر وروسته قریش له مسلمانانو دومره مرعوب وډارشول، چې دسوداګرۍ لپاره یې دشام لوری ترک کړ، دعراق لاره یې غوره کړه، دلارې درهبر په توګه یې "فرات بن حیان العجلی" په اجرت ونیو او ځان سره یې بوته، دسوداګرۍ یوه قافله له مکې نه دعراق په لور وخوځیده .قافله کې پریمانه مالونه بارووه. دقریشو په سردارانو کې ابوسفیان بن حرب، صفوان بن امیه، حویطب بن عبد العزی اوعبد الله بن ربیعة هم وو، (دمکې دفتح په مهال دغه ځلور واړه په سلام مشرف شوي ﷺ)

رسول الله (ﷺ) ته اطلاع ورغله، دزیدبن حارثه (رضي الله عنه) په مشرۍ سل صحابه یې پسې ولیږل، علامه ابن سعد(رحمه الله) لیکلي:دزید بن حارثه (رضي الله عنه) سریه "القردهؤ سیمې لورته، دهجرت په ۲۸مه میاشت ،جمادی الآخر لیږل شوې .اودا هغه لومړۍ سریه ده چې زید بن حارثه رضي الله عنه پکې دامیر په توګه ګومارل شوی، "القرده" دنجد خاوره کې دا"لزبده" او "الغمره" ترمنځ د "ذات عرق" په خوا کې دیوې ځایې سیمې نوم دی.(طبقات ابن سعد ۲۲۷مخ)

صحابه چې هلته ورسیدل، هغوئ دقافلې په لاندې کې کامیاب شول، خو دقافلې دسر خلک ټول وتښتیدل، البته فرات بن حیان العجلی یې ونیو او ځانو سره یې مدینې منورې ته راوست، په غنیمت کې یې دومره زیات مالونه زیات ونیول، چې یوآځې خمس یې (شل زره درهم ووت، دعلامه ابن سعد په قول : صحابه وو ټول غنیمت رسول الله (ﷺ) ته راوړ، رسول الله (ﷺ) په پنځو برخو وویشه. پنځمه برخه یې ترې وویسته، یوه برخه شل زره درهم شوه، پاته ځلور برخې رسول الله (ﷺ) د سري په مجاهدینو وویشلې

د ابن سعد په روایت : رسول الله (ﷺ) فرات بن حیان العجلی ته وویل: که ته اسلام راوړي، ته به پریښودل شي .هغه اسلام راوړ، رسول الله (ﷺ) هغه ته ببښنه وکړه.

دابو رافع وژل :

ابورافع ديهودو يولوی شتمن و ، ابورافع دهغه کنيت و اونوم يې عبد الله بن ابی الحقيق و، ځينويې نوم سلام بن ابی الحقيق نقل کړی . خيبر ته څېرمه يوه بانډه کې اوسيده.

دکعب بن اشرف وژونکی غازي صحابي "محمدبن مسلمه" او دهغه ملګرې ټول داوس قبيلې وو، په دېسره خزرج قبيلې خلکو ته "غبته" راغله ، چې اوسيانو درسول الله (ﷺ) يوډېر لوی دښمن او ګستاخ "کعب بن اشرف" په ژلو ستر ويارِ ترلاسو کړ، مونږ ته هم پکاردی چې درسول الله (ﷺ) د يوبل دښمن (ابورافع) په وژلو سره ځانونه درسول الله (ﷺ) ته سرخ رويه ثابت کړو ، دې لپاره هغوئ رسول الله (ﷺ) ته ورغلل، څو تري دابو رافع وژلو اجازه واخلي ، رسول الله (ﷺ) اجازه ورکړه(فتح الباری ۷ټوک ۴۶۲)

عبد الله بن عتيک، مسعودبن سنان، عبد الله بن انيس، ابوقتاده بن حارث بن ربعی، اوخزاعی بن اسود (رضی الله عنهم) دې کار ته تيار شول ، عبد الله عتيک (رضی الله عنه) دهغوئ لپاره امير غوره شو، رسول الله (ﷺ) ورته تاکيد وکړ، پام چې دهيڅا ماشومان اومير مني ونه وژنئ!!

دامام طبری قول دی، چې دهجرت په دريم کال، جمادی الاخر کې عبد الله بن عتيک خپلو ملګرو سره يوځای روان شو، ابن سعد وايي: چې ابورافع په ۶ کال رمضان کې اوځني نور وايي: دهجرت په ۵ کال ذی الحج کې، په يوبلروايت په ۴ کال، بل وايي: ۳ کال په رجب ميا شت کې. امام بخاری رحمه الله، په صحيح بخاري کې له زهري نه روايت کړی چې ابو رافع دکعب بن اشرف دقتل وروسته ووژل شو (فتح الباری ۷ټوک ۴۶۲مخ) مونږ دلته دامام بخاري په روايت داستنادله مخې دابورافع قتل واقعه دکعب بن اشرف له وژل کيدو وروسته راوړه.

په صحيح بخاري کې له براء بن عازب (رضی الله عنه) نه روايت دی: دلمر پريوتو وروسته کله خلکو خپل څاروي دځرولو وروسته بيرته بيول ، عبد الله بن عتيک (رضی الله عنه) او دهغه ملګري خيبر ته څيرمه ورسيدل ، هغوئ چې کله دابورافع کلاته نېږدې شول، عبد الله بن عتيک (رضی الله عنه) ملګروته وويل: تاسي هم دلته کينئ ، زه دننه کلاته دننو توځه تدبير جوړوم.

هغه دروازې ته چې پوره نيږدې ورغی ، مخ يې په څه پټ کړ، داسي کيناست لکه قضاءِ حاجت ته ناست وي! دکلا په دروازه کې ولاړ پهره دار داسي وفهموله چې زمونږ څوک دی ورناري يې کړ :

اې دالله بنده ژر شه ، دروازه بندوم.

زه سملاسي کلاته ننوتم . ژر يو طرف ته پټ کيناستم، ابورافع بالاخانه کې اوسيد. دشپې ترڅه وخته کيسه کوونکو کيسې وکړی ، بيا دهغوئ مجلس پای ته ورسيد، هرڅوک خپلو کورونو ته لاړل، پهره دار دروازه بنده کړه او دکيلي ګانو غوټه يې زورنده کړه

هغه چې ویده شو ، زه پورته شوم دکیلي ګانو غوټه مې راواخسته لاړم دروازه مې ییرته کړه ، بالاخانې ته پورته شوم ، کومه دروازه چې ما خلاصه کړه هغه مې ځان پسې ددې لباره بنده کړه، هسې نه څوک رانشي ،څو خلک خبریږي اورازي چې ما خپل کار کړی وي

بالاخانې ته لاړم ، ماته نه معلومیده چې هغه چېرته دی، تیاره وه، ابو رافع دخپل له اهل وعیال سره و، ما غږ وکړ ابو رافع ! ابورافع ! ابو رافع وویل: څوک یې، ما دهغه د غږ پسې په ورخطایې منډې کړل، تلو کې تلو کې مې دتورې ګذار وکړ ، مګر خالي لاړ، ابورافع چیغه کړه! لږ وروسته مې خپل غږ څه بدل کړ او دهمدری په لهجه مې وویل: ابو رافع داغږ دڅه و؟ ابو رافع وویل: اوس په ماچا دتورې ګذار وکړ.

دې سره مې په هغه دویم ګذار وکړ، په وجه یې هغه ژورتپې شو ،بیامې دتورې تیره څو که دهغه په خیټه کیښوده اوبل خوا تري وویسته ، پوشوم چې نور هغه مړ دی، ساه پکې پاته نده، روان شوم یوه ،دروازه مې خلاصه کړه، کله چې په پوړۍ رابښکته کیدم ذما خیال داراغی چې زمکې ته ورسیدم ، دې کې راپریوتم ، دپونډې هډوکی مې مات شو، ژرمې دسپورمې ریا ته پخپله پګړې وترله، بیا خپلو ملکروته راغلم، هغوئ ته مې وویل :

تاسې در څئ !رسول الله (ﷺ) ته دهغه دمرګ زیږی ور رسوئ ، زه هم دلته کینم، څو دهغه دمرګ اعلان واورم بیا درزم، سهار شو چرګ اذان وکړ ، دکلا له دیوال نه دابورافع دمرګ اعلان وشو ، بیا را روان شوم، ملګرو سره یوځای شوم، هغوئ ته مې وویل: تیز درومئ ،الله ابورافع مړ کړ، راغلو رسول الله (ﷺ) ته موزیږی ورساو ، څه چې تیروو، هغو ټولو نه مو خبر کړ ، رسول الله (ﷺ) ووېل:

ته دې پښه وغځوه! ما هغه وغځوله، رسول الله (ﷺ) ورباندې خپل مبارک لاس تیر کړ داسې ښکاریده لکه چې هیڅ درد نه و. (بخاری باب قتل ابی رافع فتح الباری قتل ابی رافع البدایه والنهایه ۴ټوک ۱۳۶مخ)

نوربیا

محمود احمد نوید

خلع هویت چرا ؟؟

چندیست که موضوع مندرجات در تذکره های جدید (و به اصطلاح الکترونیکي) تبدیل به مباحث جدّی و داغ رسانه ها و شبکه های خبری گشته است ؛ از آنجا که در عصرحاضر کارت هویت و یا همان تذکره ، معرّف یک شخص حقیقي هست و در اصطلاح امروزی شاخص ترین مدرک شناسایي افراد به لحاظ دین ، ملیت ، نژاد ، لسان و کشور همان یک قطعه کارتي است که از آن به عنوان تذکره یاد مي شود و از لحاظ معنوی ، اهمیت فوق العاده داشته و مندرجات داخل آن ، بیانگر شخصیت صاحب آن است ؛ و نیز از آنجا که دشمنان از دیر باز در پوشش پلان های مختلف در صدد بي هویت کردن مسلمانان بوده و همچنان در تلاش هستند ؛ امروزه اما ، دشمنان بطور علني و آشکار از جوّ حاکم در فضای سیاسي کشور ، سوء استفاده نموده و نسبت به گذاشته گام های موثرتری ، علیه هویت کشي برداشته اند و تا حدود زیادی با تبلیغات زهرآگین خود ، افراد بسیاری را فریب داده و برای بیگانه ساختن ملت افغان از هویت و افتخارات ارزشمند ، از ابزار گوناگون استفاده نموده و چنان وانمود کرده و مي کنند که انجام این کار (یعني جعل هویت اصیل و یا سلب آن) سبب خیر ، صلح ، وحدت و اتحاد شده و کلماتي همچون "دین ، افغان و تخلص" موجبات تفرقه و اختلاف بین قومیت ها و ملیت های مختلف ساکن در کشور مي شوند ؛ فلذا با بي شرمي تمام ، توسط یکعده افغان نماهای گمراه و وطنفروش ، بسیار کوشش مي کنند که این کلمات را از هویت نامه و یا تذکره افغان ها دور نمایند !؟!

ولي واقعا چرا دشمنان در صدد خلع هویت ما مسلمانانست ؛ آیا بهترین مدرک یک مسلمان کلمه مقدسه لا اله الا الله و محمد رسول الله نیست ؟

آیا یک مسلمان جز دین اسلام دیگر هویتي دارد و یا مي تواند داشته باشد ؟

آیا ضمیر و وجدان بیدار و آگاه یک مومن این را قبول کرده مي تواند که خود را برای دیگران بنامي غیر از اسلام معرفي نماید ؟

آیا ما در وطن عزیز خود افغانستان به جز "مسلمان افغان" دیگر هویتي مي توانیم پسند کنیم ؟

آیا مگر دشمنان نمي دانند که همه هویت ما یک کلمه و آن هم "اسلام" است و بعد از اسلام ، دنیا ما را فقط به یک اسم و آن هم "افغان" مي شناسد ؛ اگر در معرفي نامه یک افغان واقعي و مسلمان ، کلمه دین و افغان سلب شود دیگر چه مي ماند که با آن معرفي بشود ؟؟؟

راستي ! دشمنان از خلع هویت ما چه سودی مي برند ؟

واقعیت اینست که غرض نهایي و هدف اصلي دشمنان ، از طرح و اجرای انواع پلان های ظالمانه و مصارف مالي و جاني گزافي که برای تباهي مسلمین و خلع هویت شان بکار مي برند ؛ تنها همین است که مسلمانان را از دین بي دین نموده و از هویت اصلي و پرافتخارشان جدا نمایند ؛ و آنها را تا مي توانند از افتخارات واقعي و ارزشمندشان دور نگاه دارند ؛ چه اینکه هراندازه که مسلمانان از هویت شان دور بشوند به همان میزان ، به سمت اغراض و منویات شوم و شیطاني دشمنان گرایش پیدا کرده و نزدیک مي شوند و خلاصه به مرور زمان از همه داشته های با ارزش و افتخارات ناب خود جدا مي افتند !

دشمنان اسلام بعد از تصاحب و اشغال سرزمین افغانستان ، همواره در طول دوران اشغال ، کوشیده اند که از ملت افغان ، سلب هویت کنند ؛ و اینک اما ، در صدد اجراء کردن پروسه های شوم خویش هستند و مي خواهند با بي اهمیت نشان دادن موضوع حذف کلمات دین و افغان ، از تذکره های هموطنان عزیز ، هویت افغان ها را نیز اشغال و تصاحب کنند و همانطور که یکتعداد افغان نماهای وطنفروش ، وطن را دودستي به دشمنان فروختند امروزه از طریق همان افراد عنقریب است هویت و حیثیت افغانها نیز بفروش برسند و دیگر هیچ چیز برای ملت شریف افغان باقي نگذارند ؛ ولي مگر مي شود یک مسلمان افغان را از تمام هویتش که همان اسلام و افغانیت است جدا کرد ؟؟؟

ما نه براساس اختلاف و تفرقه خود را مسلمان افغان مي خوانیم بلکه براساس این حکم ازلي قرآن شریف که مي فرماید : " ... وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ..." (۱۳ حجرات) خاص برای معرفت و شناخت ، هویت خود را اینگونه بیان مي کنیم ، غرض اصلي از مندرجات "دین و افغان" در تذکره ، بخاطر اینست که دنیا ما را ، قبل از هرچیزی به عنوان دیندار و ملیت دار بشناسد و در صورت عدم ذکر این دو کلمه ، مردم دنیا از کجا بفهمند که ما اهل دینیم و یا بي دین ، افغانیم و یا غیر ؟ و آیا واقعا کلمه های مثل دین و افغان ، تا این حد آزار دهنده اند که یکتعداد افغان

نماهای وطنفروش (با هدایت و دستور مستقیم اربابان خارجي خود) دنبال هویت فروشي هستند و مي خواهند همه هویت ما را از ما بگیرند؟

آنطوری که بسیاری ها مغلطه مي کنند ؛ و کلمه افغان را منحصر در یک قوم خاص مي پندارند واقعا در حق این کلمه جامع ، اجحاف روا مي دارند ؛ چرا که این کلمه مُخَفّف "افغانستان" نام زیبای وطن ماست ، کدام افغاني حالا از هر نژاد و لساني با کلمه افغانستان تعصب مي ورزد ؟ اقوام مختلف ساکن در کشور ، همه مال یک آب و خاک مشترک هستند اگر پشتون اند یا تاجیک ، ازبیک اند یاهزاره ، بلوچ اند یا ترکمن و ... از یک چمن ، منتها با گلهای متنوع هستند که در کنار هم ، افغانستان واحد را تشکیل مي دهند ؛ و دنیای خارج آنها را به عنوان "افغاني" مي شناسد ؛ همانطور که این مسئله ، در بسیاری از نقاط مختلف دنیا و کشورهای جهان با آنکه در داخل خود ، (آن کشورها) متشکل از اقوام و گروهای مختلف فکری و مذهبي هستند ؛ در بیرون اما با نام مخفف کشورهای شان یاد شده ؛ و یک امر عادی و رایج تلقي مي شود و هیچ مشکلي هم ندارند ؛ چراکه مشخصات مندرج در تذکره و یا همان کارت هویت و نیز بیرق یک سرزمین جزو شعایر و افتخارات یک کشور محسوب مي شوند ؛ و هرکسي در دنیا ، به داشته های باارزش خود افتخار کرده و عشق مي ورزد ؛ اما که متاسفانه این روزها در افغانستان ، فریب خورده های داخلي زیر نام "مشرانو جرگه" و غیره در کشور عزیز ، (و مخصوصا) برای جلب توجه و خرسندی کفار ، یهود و نصارای ، در تلاش تحریف و تشویه هویت ملي افغانها هستند ؛ و اگر کسي با آنها به مخالفت برخیزد و بخواهد از هویت و خاک خود شرافتمندانه دفاع کند ؛ بلافاصله تهمت های ناروا به وی وارد نموده و مارک جاسوسي و بیگانه پرستي مي زنند ! ...

چه زیبا گفته علامه اقبال – رحمه الله – :

خدا آن ملتي را سروری داد
که تقدیرش بدست خویش بنوشت

به آن ملت سروکاری ندارد
که دهقانش برای دیگران کشت

امریکا اوځيني پخواني رهبران

جمال الدين اديب

د څلورمې هجري پېړۍ نيمايي کې چې اندلس کې د امويانو خلافت ونړېد، ځای يې ملوک الطوائف ته پاتې شو. د اندلس په هر ښار يوه کورنۍ حاکمه شوه او هرې کورنۍ جلا جلا حکومتونه جوړ کړل. په اندلس کې د امويانو خلافت د نړۍ په تاريخ کې د اسلام د واکمنۍ هغه بې ښلګې ورځې دي، چې تنې بې خرته پر مختللی لويديځ يې هم پورې دی.

د اسلام په مفتوحه زمکو کې د اسلام دغسې ښلګه نظام او واکمني يا د خلافت نړېدو پسې سمدستي بې ښلګې ملوک الطوائفي چې تر ننه يې د نړۍ هر اختلاف شا ته پرې اينبسی، ان د اروپا د تور تاريخ د منځيو ميلادي پېړيو تبعيضي نظامونه هم ور ونه رسېدل!

په دغو ملوکو کې د اشبېليې د ښار مالک قاضي عباد و، چې په اشبېليه کې د عامري دولت قاضي و. ده "آل عباد" کورنۍ په اشبېليه حاکمه کړه او له شاوخوا نورو ملوکو سره يې د يو او بل په

وهلو کې څه توپیر نه درلود. قاضي عباد چلي حاکم و، علماء او پوهان یې پر ځان راټول کړي وو، چل یې په دې کې و، چې ظاهرا یې خپل ملوکیت ته دشورایي نظام رنګ ورکړی و.

عباد خبر و، چې د عامري دولت په عروج کې د اموي کورنۍ یو نظربند غړی (هشام المؤید) له خپل قصره تبښتېدلی و او ځان یې پټ کړی و. ده کوښښ کاوه چې هشام پیدا کړي او د اندلس د خلکو زړونه په دې وګټي چې د دوی امیرالمؤمنین یې پیدا کړ او بېرته یې امویان حاکمان کړل. دا چې هغه یو سر او دوه غوږه دی، نو د همدې عباد کورنۍ په واک کې به وي او په دې بهانه به یې د خلکو له ستر ګو پنا وساتي چې د ده ژوند په خطر کې دی، ګویا مستقیما به یې خلکو سره اړیکه نه وي او عباد کورنۍ به یې د ولسونو د راپورته کېدو له خطره په امان وي.

همداسې یو څه وشول چې د اشبېلیې په ښار کې یې د پوزیو یو تاجر "خلف الحُصَري" هشام سره د مشابهت په دعوه ونیو او د اشبېلیې قصر ته یې راوست. خلف تر مرګه له دې منکر و. چې دی هشام دی، خو عباد کورنۍ ورته ویل ته هشام یې. بېل قصر، وینځې، ځانګړی ګارد یې ورکړ او د امارة لباس یې ورواغوست. تاریخ لیکونکو نومورې داسې لېونتوری انسان ښوولی، دلیل یې دا ښیي چې دی ښه خبر و، چې هشام نه دی، خو بیا یې هم ځان باندې د "امیرالمؤمنین" ګومان کاوه.

خلف چې په لومړي ځل قصر ولید، فکر یې کاوه چې زه جنت ته راغلی یم، خو چې ځان به یې وپوښته چې مرګ څه شو؟ سوال به یې بېرته خپله ځواب کړ، چې ګوندې په ناڅاپي مرګ مړ شوی دی!! د ده په احوالو کې راځي چې کله کله به یې ځان ربښتیانی امیرالمؤمنین باله او دیوځه په اړه به یې د اجرآتو غوښتنه کوله، خو چې کله به ورته د قاضي عباد وزیرانو د ده حقیقت ورپه یاد کړ، ځان ته به متوجه شو.

عبادیانو دی یوه ورځ د اشبېلیې ښار ته راوویست او اعلان یې وکړ چې هشام مو پیدا کړ او دا دی پر تخت بېرته کېناست. د عبادیانو موخه دا وه، چې د اندلس د نورو ښارونو د ملوکو د خلافة او امارة د اعلان مخه ونیسي او ځان ته یو ډول مشروعیت ورکړي، چې تر یوه ځایه کامیاب هم شول.

عبادیانو خلف ته ویلي وو، که څوک درباندې پوه شول چې ته هشام نه یې یا دې دا هڅه وکړه چې خلک راوپاروې په همغه ورځ به نه یې. دی چې یو وخت په قصر کې سخت تنګ شو، غوښته یې چکر ته ووځي، اصرار یې وکړ، پایله دا شوه چې اصرار یې په مرګ تمام شو او مړی یې بې جنازې خښ شو.

په افغانستان کې اوسنی نا مشروع دولت هم د امریکایانو د پلان مطابق ځینې پخوانې رهبران د خلف حُصَري غوندې استعمالوي. امریکایان یوازې دا نه چې د دوی په مرسته له مرګ و ژوبلې په امن نه شول، بلکې د دې رهبرانو رول یې په خپله ملګرتیا صفر ته راټیټ کړ. دوی یوازې د همدې رهبرانو زیره خواره رام کړل، خو دا یې ونه شوه کړای چې ملت د دوی په خبره او استدلال قانع کړي. ځینې پخوانې رهبران به د حصري په څېر کله کله پر ځان د ښتیانیو جهادي مشرانو ګومان کوي، خو دې ته به یې پام نه وي، چې مسلمان فدایان یې په وژلو کې جنت لټوي.

هغه تېره ورځ چې حضرت حُصَري مجددي په لویه جرګه کې پر ځان کوم ګومان کاوه، له یوې خندوونکې مسخرې یې پورته څه زور نه لاره. ده ته ځان په جرګه کې د ټول افغانستان روحاني پلار ښکارېده، ځکه خو یې کرزي ته اخطار ورکاوه، که سند نه امضاء کوې، نو زه هجرت کوم!! دی فکر کوي، که زه هجرت وکړم، ټول افغانستان به ما سره هجرت وکړي او کرزی به یوازې پاتې شي!

ده هجرت (فرار) وکړ، خو چا پرې غوږ هم ونه ګراوه. د ده د تېښتې اصل لامل دی په خپله نه دی، بلکې د ده کورنۍ ده. د افغانستان د پردې پالو تجارانو او د کرزي د اداري د نامؤمنو منسوبینو په څېر پر دوی هم د ۲۰۱۴ خپسه ناسته ده، نو ځکه یې کورنۍ غوښته چې د امریکایانو له ۲۰۱۴ مخکې خپله له افغانستانه ووځي. دوی چې متعیش او سهولت طلبه دي، نو مخکې له مخکې یې په غرب کې د خپل تعیش غم وخوړ، خو زما په فکر دی به اوس هم خپلې خپلخانې په دې نه وي پوه کړی، چې مور ولې راووتو؟ اوس به هم ده ته وایي چې د افغانستان خلک دېر درپسې خپه دي او کرزي ته ستا راوتو دېر تاوان وکړ، ګویا دی له امریکایانو مخکې د خپل کور "حُصَري" دی.

زما یو نږدې ملګري چې د اغا صیبانو له کورنۍ دی، کیسه راته کوله، ویل یې پلار مې مجددي ته مشوره ورکړه چې عمر دې خوږلی له دې کارونو لاس واخله او روحانیت ته متوجه شه، کوم خلیفه دې وروزه. وایي مجددي ځواب ورکړ: "به خدا اګه یک لحظه از کرزی گم شدم تمام افغانستان در برابرش قیام می کنه".

امریکایان د مشروعیت هیڅ پروا نه لري، یوازې دومره غواړي، چې د مشروعیت لفظ استعمال کړای شي، د همدې دندې لپاره یې دغه حُصَریان ساتلي، دوی پر ځان پوهیږي، چې رهبران نه دي، خو امریکایانو شکي کړي، چې ګوندې ښتیا هم هغه رهبري پاتې نه وي. دوی خپل ولس داسې ګڼي چې ګڼي بې حافظې دی، خو پام یې نه دی، چې د همدوی حافظې تاریخ تېرې دي، ځکه خو یې پام نه دی او ځکه خو یې د امریکایانو مصنوعي دلایل د کره دلایلو په توګه منلي.

امریکا سره د دې رهبرانو ارزښت تر دې اندازې دی، چې دا دی له دولسو کلونو وروسته یې د کرزي په اړه داخواري لږ تر لږه پیل کړې، چې تېر اخر یې خپلواک او زړور انسان معرفي کړي. خو دوی یې د هغه ذلیل دریځ لپاره انتخاب کړي چې هیڅکله به یې تاریخ دیوه دراک او ځیرک رهبر په توګه څه چې د عام خپلواکې پېژاندانسان په توګه هم یاد نه کړي.

کرزی د یوې هوکړې په پایله کې امریکا سره د مخالفت تظاهر کوي، کوښښ کوي چې د خپل مدارېتوب پر بنسټ ناندریزه سیاسي فضا دیو څه وخت لپاره حاکمه وساتي او وښیي چې ګنې کرزی د افغانستان د ګټو پر سر امریکا سره وران دی. کرزی سره له دې چې دامریکا په زور او مټ پر افغانستان حاکم شو، خو بیا هم ښیي چې د افغان د ګټو خبره راځي، امریکا ته سر نه ټیټوي. پای ویلای شو؛ دی که څه هم آله ده، خو دومره اهمیت امریکا ته لري، چې افغانانو ته یې یو څه پت ورجوړوي، خو افسوس د کابل مېشتو پخوانیو رهبرانو په حال، چې د شرمساره دریځونو انتها یې هیڅ سر نه دی ټوکولای او لا هم په زړه بې لاری کې پراته دي!

دوی کې بیا ځینې جنابان کوښښ کوي چې د اسلام د لارې لښکریانو ته دین وروښیي. کله د یوې اسلام ضد ځېرې فاتحه کې، کله د بل اسلام ضد سړي تلین کې له موقع استفاده کوي او د عَبادیانو د حُصَري غوندې مهمو قضایاو ته خوله اچوي! ستونزه دا نه ده، چې ولې مخالفت کوي؛ بلکې ستونزه دا ده، چې خپله یې اسلام پرې ایښی او بل ته یې د ورزده کولو کوښښ کوي.

شهید عبدالله عزام رحمه الله په "سقوط الخلافة" کتاب کې لیکي؛ د سید قطب رحمه الله د اعدام په ورځ حکومت د ازهر یو شیخ ته امر وکړ، چې د اعدام پر مهال سید قطب ته کلمة الشهادة تلقین کړي، هغه حُصَري هم ورته شروع وکړه: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله. سید قطب ورته وویل زه د دې کلمې لپاره مرم او ته پرې روزي ګټې، ته یې څنګه ما ته تلقینوې!!

همدغه حال د کابل مېشتو حُصَریانو دی. دوی د اسلام پر سر د یهودو زیرې خوري. د همدې لپاره یې چپني وراغوستي چې د نصاراو د منځنیو تورو پېریو د پاپانو په څېر د دین تېکه واخلي. د همدې له امله یې د اسلامي احکامو د تفسیر او تشریح حق هم ځان ته ورکړی، د جهاد او نه جهاد اوامر هم په خپل لاس کې ګڼي، خو دوی نه پوهیږي، چې هغه څوک په اسلام نه دی پوه شوی چې لپاره یې نه شي قربانېدلای. دوی پخوا هم رفاه طلبي وو او نن هم دي. دا د اسلام پر سر زیره خواره د سید قطب پر استدلال څنګه هغه چا ته دین ښیي چې د دې دین د حاکمیت او بقاء لپاره لکه سپېلنې لوګی کیږي!!

دغازي آباد محترم ولسوال ملا عادل مورچل سره په مرکه کې :

افغاني پرګنې داشغالګرو سره دتلپاتي میشتنذني ترون لاسلیکول دغلامې اداري لخوایو بزدلانه ګام او دیوه مسلمان اتل ملت دپلورلوسره مرادف بولي !

مرکیال :هشاند

هیله ده چې په پیل کې دمورچل مجلې لوستونکیوته خپل ځان وروپیژنئ !

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم . اما بعد!

فأعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم : قال تبارک و تعالی فی سورة الأنفال :

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ .

زمانوم عادل اودننګرهارپه ولایت کې مې سترګې غړ ولې دي ، روحاني او علمي تربیت مې د والدمحترم په توسط دمسجد ملاامام څخه شروع، چې ناظره قرآن کریم مې ورځخه ختم کړ، دروسانو او کمونستانو دظلم او ستم څخه مو د والد محترم تر نظرلاندې پاکستان ته هجرت وکړ، بیا مو خپلو زده کړوته د الهجرت والجهاد په مدرسه کښې دوام ورکړ. کله چې د ۹ ټولګي څخه فارغ شوم، چرات کې مې دارالعلوم محمدیه کښې درې درجې کتابونه ولوستل . کله چې د افغانستان اسلامي امارت د شر او فساد په مقابل کښې په جهاد لاس پورې کړ، ماته هم دا مینه راپیدا شوه چې دخپلو شیوخو او طلباوو سره پدې کاروان کښې شریک شم ، دنیکه مرغه چې دننګرهار څخه یوه وفدکې دخوست ته لاړواو له هماغه ځایه مو دشهید مولوي احسان الله احسان په مشرۍ دشر و او فساد په مقابل کښې دجهاد لاره غوره کړه او دادی تر ننه ددې کاروان لاروی یم . له نیکه مرغه چې دتحریک په جهادي بهیر کې راته څه فرصت پیدا شواوخپل نیمګړي درسونه مې دجهادی مصروفیاتو ترڅنګ د دروتنې په جهادي مدرسه کښې ولوستل اوهلته مې د فنونو تکمله وکړه، چې دموقوف علیه یا ورې دورې لپاره مې دمرحوم ګوټ آخندزاده رحمه الله سره داخله وکړه ،د سند ترلاسه کولو څخه وروسته بیا په جهادي کارونو تر پایه مصروف شوم ، افغانستان کې دښکیلاکي عسکرو په مقابل کښېمې دخپلو مشرانو دتوصیې او رهبرۍ سره سم متې راپورته کړي او په وسله وال جهاد مو لاس پورې کړ.

فی الحال هم دکنړ او نورستان په مربوطاتو کښې دغازی آباد ولسوالۍ د مجاهدینو د خادم په صفت د صلیبي او غلام دښمن په مقابل کې د الله جل جلاله نصرت او مدد په هیله په جهاد بوخت یم . د الله تعالی څخه غواړم چې دې راسپارل شوي خدمت کې راسره خپل مدد شامل کال کړي،همداسې د مورچل مجلې کار کونکو ته خپل سلامونه او احترامات وړاندې کوم او ددوئ څخه ډیر مشکور یم، چې مونږ ته یې وخت راکړ،تر څو د غازي آباد ولسوالۍ په جهادي بهیر لوستونکي خبر کړو .

۱- پوښتنه :که دغازي آبادولسوالۍ دجهادي اوپوځي حاله که لوستونکي خبر کړئ ممنون به شو؟

ځواب : لله الحمد د غازی آباد ولسوالۍ جهادي حالت د ډاډ وړ دی او مجاهدین په لوړه روحیه ددښمن مقابلې ته چمتو دي ،دا ولسوالي په لوړ زیات تعداد کې مجاهدین

لري، چې د دښمن په فريبونو او دسيسو ډير ښه پوهيږي، په خپل قوي عزم او پوره ايمانداري د صليبي يرغلګرو او د دوئ دغلامانو په وړاندې لارتر اوسه په مقاومت بوخت او ددښمن دهر يرغل مقابلې ته چمتو دي ،چې د ژوند تر آخرې سلګۍ پورې به له خپل اسلام ، عقيدې او دګران افغانستان د مسلمان ولس څخه دفاع وکړي . والسلام

۲ - غازي آباد چې دکنړونواو نورستان تر منځ خورا حساسه ولسوالي ده ،داشغالګرو پر خلاف پکې خپل جهادي تکتيکونه څنګه ارزوئ ؟

ځواب : دغازی آباد ولسوالۍ په مربوطاتو کې داشغالګرو صليبيانو(څلور بيزونه (مرکزونه)) موجود وو، دوئ غوښتل چې د افغانستان مسلمان او مظلوم ولس تر خپل اثر لاندې راولي او خپل شوم اهداف ورباندې تحميل کړي، خو لله الحمد دکنړ او نورستان او بيا خاص د غازی آباد په دين مين ولس دمجاهدينو تر څنګ په يو غږ او قوي عزم په کلکه عقيده ودريد، د اشغالګرو پر خلاف يې مقدس جهاد ته دوام ورکړ، صليبي يرغلګر پدې ونه توانيدل ،چې دمجاهدينو مخه ونيسي او دوئ خپل د اسلام ضد اعمال په اسلام پاله ولس تر سره کړي، هماغه وو، چې دمجاهدينو کلک مقاومت او قوي مورال پر بنسټ د دوئ ټول تکتيکونه او دسايس د خاورو لاندې کړل، بالمقابل صليبيان د ځاني او مالي تلفاتو تر څنګ پدې پوه شول ،چې زمونږ اسلام دښمنه کړنې او شومې مفکورې په اسلام پاله ولس څه اثر نکوي . په نتيجه کې دسختو نه جوړيدونکو زخمونو، ځاني او مالي تاوانونو تر څنګ دغازي آباد دولسوالۍ څخه په تيښته بريالي شول .

۳- دولسي خلکومرسته باندې څومره باوري ياست؟

ځواب : لله الحمد دافغانستان مسلمان ملت او مخصوصا دغازي آباد مجاهد ولس دښکيلاکګرو په وړاندې دمجاهدينو تر څنګ په يوه عقيده او يوه اتفاق ولاړ، د تاريخ په اوږدو کې دهر طاغوتي دښمن په مقابل کې سرښندونکی مقاومت کړی او دخپلې عقيدې او ايمان په دفاع کې يې ځاني او مالي قربانيو ته لبيک ويلی، ددوئ مرستې هر وخت زمونږ لپاره ويار اودفخر ځای وي ،په نتيجه کې الله رب العزت د مسلمان، افغان دښمن ته رسوايي او شرمندګي ور په برخه کړي او مسلمانو افغانانو ته يې د دښمن په مقابل کې سرلوړی او بريا په نصيب کړي ، زه اوس هم پدې عقيده يم . والسلام .

۴- دغازي آباد دخلکواحساساتو ته په کتو داشغالګروامریکایانوتلپاتي میشتیدنه اودغلامي اداري سره دامریکایایانودامنیتي سند په نوم دهیوادداشغال ترون ته له کومې ناحیې ګورئ؟

ځواب : دافغانستان د اسلام پاله ولس او دغازي آباد دولسوالی مربوطې پرګنې داشغالګرو سره دتلپاتي میشتندنې ترون لاسلیکول دغلامي اداري لخوایوه بزدلانه ګام بولي او داد مسلمان ملت پلورنې سره مرادف اودافغان قوم له نظره هیڅ ارزښت نلري ،ځکه چې دغه اشخاص دیو څو ډالرو په مقابل کې خرڅ شوي ،کله چې یو نفس خپل حریت نلري، هغه به د یو ملت واکداري څنګه وکړي، د افغانستان هیڅ یو مسلمان وګړی پدې قانع ندی ،چې خپل وطن د افغانستان په اسلام دښمنه اشغالګر و وپلوري دا عمل په کلکه ردوي او داشغالګر دښمن په وړاندې خپل اسلامي او افغاني غیرت ته له پیاوړې نکتې کوري ، او هغه عناصر چې وطن پلورنې ته د آبادۍ په سترګه ګوري دا مفکورې او پلانونه به انشاء الله ګورته له ځان سره یوسي .

۵- پوښتنه : غازي آبادکې دکوم اشغالګرهیواد عسکرمیشت دي ؟

ځواب : دغازي آباد دولسوالی په مربوطاتو کې دکوم اشغال ګر هیواد عسکر فې الحال وجود نلري ،په تیرو کلونو کې پکښې امریکایي اشغالګر میشت وو، خو دمجاهدینو دکلک مقاومت او دمنظمو تکتیکونو په نتیجه کې دډیرو ځاني او مالي تلفاتو سره دغازي آباد ولسوالی په مربوطاتو کې خپل شتون ترک او دتیښتې لاریې غوره کړه او ټول شوم اهداف یې تر خاورو لاندې شول لله الحمد دغازي آباد دولسوالی امنیت دمجاهدینو په لاس کې دی او پرمخیون یې انشاء الله ګړندی روان دی

۶- پوښتنه : که احیاناً امریکایان نور لس کاله په افغانستان کې پاتې شي دخپلو مجاهدینوجهادي مورال څنګه ارزیابي کوئ آیادوئ به چمتو وي چې تر پایه ورسره وجنګیږي ؟

ځواب : هو ولي نه ! زمونږ مجاهدین دیوه طولاني جهاد تابیا لري،خو چې بنکاري امریکایي اشغالګر او متحدین یې انشاء الله دخپلو نه جوړیدونکو زخمونو په حال کې دافغانستان ځخه د تیښتې لاري لټوي ،دوئ ونه توانیدل ،چې دخپلو پرمخ تللو وسایلو سره دافغان مجاهد ولس تر خپل اثر لاندې راولي، دوئ په هر وخت او هر ځاي کې

دماتې او شرمندګي سره مخ شوي. بل خوا دافغانستان مسلمان ملت په الله ﷻدکلکی عقيدې پر بنسټ ولاړ، او اشغالګر بښکيلاک دښمن ته يې کلک ځواب ويلی او دژوند تر آخري سلګی پورې به مقاومت ته دوام ورکړي، زه په دې عقيده لرم،چې انشاء الله بريا به د افغانستان د اسلامي امارت دمجاهد ينو په برخه وي، لکه چې الله تعالی په قرآنکريم کی داسې فرمايلي دي : (الا ان حزب الله هم الغالبون) ژباړه : خبر دار! يقينا چې دالله ﷻډله غالبه ده .

۷- پوښتنه : داسې راپورونه رسيږي چې غازي آبادکې هم دکونړونواو نورستان په ځيردبي پيلوټه الوتکوبريدونه زيات شوي ،تر شا يې څه وجوهات ګورئ ؟

ځواب : صليبي يرغلګر غواړي چې خپل شوم اهداف او پلانونه سرته ورسوي او دمجاهدينو مورال کمزوی کړي، خو الحمدالله دوئ به ونشي کولای چې دمجاهدينو سپيڅلي مقاومت ته زيان ورسوي ،بلکې دا د دوئ دناکامی ثبوت دی، د افغانستان مسلمان ولس د داسې بريدونو پرخلاف دښکيلاک دښمن په مقابل کې متحد او پياوړی کيږي او دې ډول بريدونو ته د کرکې په سترګه ګوري او د دوئ په مقابل کې مقاومت او سرښندنه خپله اسلامي وجيبه بولي.

۸- پوښتنه : غازي آبادکې داسلامي امارت اداري تشکيلات په کومه کچه دي آيا ولسي خلک ددې ولسوالی دامارت اجرايوي يا قضايي قوې ته خپل مسايل دحل په بنسټ راوړي که يې دکابل غلامي اداري ته ساتي ؟

ځواب : لله الحمد دافغانستان اسلامي امارت د ټول افغانستان غوندې په غازي آباد ولسوالی کې هم اداري تشکيلات لري لکه : دعوت ارشاد، تعليم او تربيه، قضايي ارګان يعنې قاضيان او مفتيان او نور اړونده مختلف کميسونونه لري، تاسو ته بهتره معلومه ده، چې دغازي آباد ولسوالی (۹۹ فيصده) خاوره د غلامي اداري څخه آزاده او تصفيه ده، صرف (۱ فيصد) خاوره د غلامي اداري تر واک لاندې ده، چې يوه لويشت اختيارهم نلري او مسلمان ولس هم د دوئ دخودساخته او ظالمانه قوانينو پرځای په ټولو مشکلاتو او مسائلو کې دافغانستان د اسلامي امارت دغازي آباد

ولسوالي قضائي او اړونده ادارو ته مراجعه کوي . تر څو خپل مسايل او مشکلات د سپيڅلي غرا شريعت په رڼا کې چې تل يې پرې قرباني ورکړي حل او فصل کړي .

۹- پوښتنه :له ګاونډي ولايتونوڅخه کله نا کله دځنګلا تو سوځيدوخبرونه ورکول کيږي ،خلکو سره ددې اندېښنه وي ،چې داقصداً ځيني اشغالګر ددې لپاره کوي چې دمجاهدينو مورچلونه تري ښکاره شي ،يا يې بل کوم شيطاني هدف وي چې ترسره کول يې غواړي ،آيا ستاسو اړونده سيمه کې همداسې کار کله شوی که شوی وي نو تاسو يې دملي ملکيت په عقيده دساتنې لپاره کوم ډول تدبيرونه په لاره اچولي دي ؟

ځواب : مننه ډيره ښه پوښتنه مو وکړه! مجاهدين دخپلو امکاناتو په تناظر دداسې ملي ملکيتونو ساتنه خپله اسلامي او ملي وجيبه بولي او تر ممکن حده يې دداسې پيښو ژوغوري ،خو اصلا امريکايي اشغالګرو په افغانستان کې هغه جنايتونه کړي او لا کوي يې ،چې د افغانستان مظلوم ملت يې هيڅ هيرولی نشي، لکه په ودونو بمبار، دښځو او ماشومانو په شهادت رسول ،دملي ملکيتونو چور اوغلا کول، د اسلام او مسلمان پر ضد عمليات او عامه وژنه او په اسلامي مقدساتو تيري پکې شامل دي، خو افغانستان مجاهد ملت دا کرغيړن پيژندلي، چې دوئ يې دافغانستان دخاورې او دهيواد والو دښمنان دي، او هغه څه کوي چې افغانانو ته د ګټې پر ځای تاوان ور اړوي ،لکه عام المنفعه تاسيسات بمبارول او دځنګلاتو سوزول هم پکې شامل دي . دغازي آباد ولسوالي په مربوطاتو کې دارنګه پيښې رامينځ ته شوي ، خو لله الحمد مجاهدينو ته يې کوم نقصان نه دی رسولی، برعکس يې دملکي خلکو نفرت او غضب نور هم راپارولی .

۱۰- پوښتنه :غازي آبادکې نن سبا دمجاهدينو تر منځ ذات البيني محبت په کومه کنډه تلئ ؟

ځواب : لله الحمد دغازي آباد ولسوالي مربوطه ولس او مجاهدين دقرآنکريم دفرمان په اساس سره ورونه دي، مينه اومحبت يې د اسلام دمبين دين په رڼا کې صورت نيسي ،ځکه چې مؤمنان په خپلو کې سره هر اړخيز تړاو لري، دالله ﷻ په يو والي ، د ټولو انبياوو کرامو په حقانيت او دحضرت محمدصلی الله عليه وسلم په

آخري نبي کيدو او د قرآنکريم تر قيامته پوري دحق قانون پر منلو پوره اتفاق لري ،او خپل ټول مسايل او مشکلات دهمدغو اوصولو پر بنسټ مخ په وړاندې بيايي او ذات البيني محبت يې هم په همدې کنډه تلل کيږي .

۱۱- پوښتنه : داسې ښکارې چې دنورومطبوعاتو غوندې به دې دمطالعه ذوق له مورچل مجلې سره هم وي ،خو په باب يې څه مشورې لري؟ او راتلونکی يې څنګه ارزوئ ؟

ځواب : دمورچل مجلې دکارکونکيو څخه ډيره منه کوم، چې مونږ ته يې سره د ډير مصروفياتو وخت او موقعه راکړه، له الله تعالی څخه ورته دلابنه پرمختګ دعا غواړم، بايد حقايق درک او مطبوعاتو ته يې وړاندې کړي او خپلې خپرونې لانورې هم ګرندې کړي ، مورچل مجله چې دسياسي ،علمي اوجهادي معلوماتو هينداره ده ،تر پخوا يې دعلمي او خبرې دواړوبرخوکيفيت ډير ښه شوی او ښه راتلونکی ورته ګورو! اميد دی چې زمونږ دارمانونو انعکاس پکې وشي او چلونکي يې په ماهرانه توګه دامطبوعاتي جهاد پر مخ بوځي ، تر ځوافغان مسلمان ملت ته دحقايقو غبرګون وښيي اوداسلام دښمنان او دسايس يې رسوا کړي !

۱۲- پوښتنه : دامارت دیوه مسؤل شخص په حيث خپلو خلکوته څه پيغام لري ؟

ځواب : دافغانستان مسلمان هيوادوالو ته او خاص کر دغازي آباد مؤمن او مجاهد ولس ته زما دا پيغام دی، چې دوحدت او يووالي لاسونه سره ورکړي، دخپلې عقيدې او خپلواکی په دفاع کې د صليبي دښمن دسايسو ته متوجه او وينې شي او دهيڅ قسم سرښندنې څخه ډډه ونکړي ،انشاءالله کامياب زمونږ په برخه ده، صليبي دښمن او متحدين مغلوب دي ،لکه څرنګه چې الله تعالی په قرآن کريم کې مونږ ته پوره ډاډ راکوي : (قُل للذين کفروا ستغلبون و تحشرون إلى جهنم و بئس المهاد) که صليبي يرغلګر ځومره هم مغرور دي، خو انشاء الله چې مغلوب به شي او جهنم ته به يې راکاږي . والسلام .

له خدايه ﷻ درته اجر غواړوچې زمونږ پوښتنوته مو په ورين تندې ځواب ووايه !

اداره

دسترګولیدلی حال :

له فراه څخه ددښمن تیښته

گزارش لیکونکی :میوندسادات

دافغانستان داسلامي امارت نظامي کمیسیون داسلامي امارت دمشرتابه په دستور په هیوادکي دمجاهدینودجهادي فعالیتونو دنظارت اوڅارنې او دمجاهدینو ترواک لاندې ساحوکې دهغوی دادارې اوملکي چارو دانسجام اوتنظیم لپاره دهیواد ټولوولایتونوته باصلاحیته هیئتونه تعین او استخدام کړی .

اسلامي امارت غواړي چې دټول هیواد په کچه ددغو توظیف او استخدام شویوهیئتونودکاري رپوټونو او دهغوی دمشاهداتواوارزونوپه اساس دهیواد دپوځي او ادارې چارو دلاسمون اوپرمختګ لپاره داسې تدابیر او تصمیمونه په کار واچوي چې دهغوی په وسیله جهادي صف لا پیاوړی اومنظم شي ترڅو وکولای شو دالله تعالی په نصرت او دهمدغه منظم او یوموټي جهادي ځواک په وسیله خپل هیواد داشغالګرو نه واکمنې ځخه داسلام دسپیڅلي نظام دحاکمیت لپاره آزاد او خپلواک کړو.

په نظرکې ده چې د دغو توظیف شویو پلاویو دکاري رپوټونو هغه برخې چې په هیواد کې دجهادي او ادارې فعالیتونو موفقیت پکې منعکس اوکوم پوځي محرمیت ونه لري په مسلسله توګه دالاماره ویب پاڼې او داسلامي امارت د اړونده رسنیو له لارې له خپلو مجاهدو هیواد والوسره هم شریک شي.

په هیوادکې دمجاهدینو ترواک لاندې ساحو کې دپوځي او ادارې فعالیتونو دڅارنې او ارزونې لپاره ددغو توظیف او استخدام شویو هیئتونو دراټول کړیو رپوټونو په سلسله کې مو داځل په لویدیځ زون

کې دفراه ولایت لپاره د ټاکل شوي هیئت د غړیو هریومحترم (مولوي عبدالسلام صاحب ،مولوي نصرالله صاحب اوقاري عبدالمالک صاحب)دیادښتونوپربنسټ همداراپورترتیب کړي.

دفراه ولایت دمساحت په لحاظ د افغانستان دلویوولایتونوڅخه ګڼل کیږي اودښه ستراتیژیک اهمیت څخه برخمن دی یرغلګروځواکونوپه دغه ولایت کي هم دافغانستان دنوروسیموپه څېرډیري هڅي وکړي چي دافغان مجاهدولس دازادۍ اوخپلوکۍ غوښتني داعیه خاموشه کړي مګردمهربان څښتن جل جلاله په ځانګړي نصرت اوبرکت دلته هم دنوروولایتونوغوندي ددښمن ټولي حربې اودسیسې شنډي اورسواشوې ،یرغلګردښمن دافغان مظلوم ولس دایلولوپه موخه په پراخه پیمانه خپل زور،پیسې اووحشت وکاراوه، اماپه مقابل کي یې افغان باشهامته ولس نه یوازي داچي تابع نه شوبلکي ورځ تربلي یې داشغال پرضدجهادي صفونه لاپیاوړي اوپراخ شول.

موږچي دهلمند څخه فراه ولایت ته ولاړو،هلته مودخپل پلان له مخي دفراه ولایت بالابلوک ،بکوا،فراه رود،پرچمن ،کلستان او.....ولسوالیواوسیموته سفرونه وکړل اوپه ډیروپراخوسیموکي وګرځیدو،دعام ولس ،ولسي مخورو،علمایې کرامواومجاهدینوسره موددغه ولایت په پوځي ،ادارې اواجتماعي چاروباندي پراخ اوازادبحثونه وکړل ،دوی ته موداسلامي امارت دمشرتابه پیرزویني ،لارښووني اوځانګړي هدایات وړاندي کړل.

موږدخپلي هیئتۍ پرمهال په مختلفوولسوالیواوسیموکي دولسي مخورواوعلماووڅخه عمومي وضعیت وپوښت دوی وویل چي :«موږدخدای جل جلاله ډیرشکرګوزاریوچي دامیرالمومنین ملامحمدعمرمجاهدحفظه الله په شان مخلص ،مدبراوشجاع امیریې راباندي لورولی دی ،داسي امیرچي په نړۍ کي دنوروپاچاهانوپرخلاف دسرټیټۍ پرژوندیې دمعاصرفرعون(امریکا)پرضدسپېڅلي مقاومت ته ترجیح ورکړه خپله برحاله واکمني تخت وتاج یې پرېښودخوداسلامي ارزښتونواوملي منافعودساتني څخه تېرنه شو،نورخلګ دپاچاهۍ ترلاسه کولوپه خاطردښکېلاک طوقونه غاړي ته اچوي اودیوڅوورځوبلواکي واکمنۍ په هوس هررازغلامي اوسرټیټي مني ،خپل ولس قتلوي ،اسلامي ارزښتونه ترپښولاندي کوي ،خپل اقداراونوامیس سپکوي حتی تردې چي خپله مور(خاوره)پلوري نغدمثال یې دکابل ،دارې اوسنی چلونکی حامدکرزی او دده بانډ دی چي دلنډمهال عیش ونوش په خاطریې اسلامي اوملي منافع پرېښودل ،غربي لوچه ګان اوحرامزاده ګان یې افغانستان ته رادعوت کړل ښځي ،بوډاګان اوماشومان پرې شهیدانوي ،خپل ارزښتونه اوکلتورپه ښکنځي ،طبعي منابع په لوټي .موږدخپلومجاهدینوڅخه ډیرخوشحال یوچي دیرغلګرواوداخلي وحشي

صفته عسکرولە سنطې څخه يې خلاصون راکړی اوپه ډيره دلاوری اواخلاص سره دخلګوخدمت کوي ،موږمجاهدينوته په وارواړيلي اواوس بياستاسوپه مخ کي هم ورته وايوچي موږهررنګه همکاری ته تياريوکه زموږپه سراومال دمجاهدينوښه کيږي وبه يې نه سپمو.دوی چي خپل سرونه قربانوي ،موږدوډی اودشپې تېرلوځای نه شوورکولای ؟!

دازموږدپاره افتخاردی چي مجاهدين راسره پاته شي ،خدمت يې وکړواوهوسايې کړو،موږدهغوکسانو پرحال تعجب اوافسوس کووچي په مجاهدينوپسې بدي اوله واقعيته ليږي خبری کوي اودکفارودراډيوګانوپه خوله خپل مجاهدين پردي بولي جهاديې ترهګري اودپاکستان اوايران جنګ ګڼي ،خوامريکايان اوملګری يې بياسوله ساتي اودبيارغوني پوځيان بولي ،داداسي خبری دي چي واقعيت ددې پرعکس دی .مجاهدين زموږوروڼه دی ،يومودين ،يومومياواد،يوموکلتورګټه اوتاوان مو سره شريک دي ،خوامريکايان زموږدين اووطن دښمنان دي . نه مودين سره ګډدی نه کلتور،نه هيواداونه هم نورمنډفع نودابه څومره احمقانه قضاوت نه وي چي خپل مجاهدين وروڼه پردي اوښکاره دښمن دوست وګڼو؟!.»

دمجاهدينوځايې مشرانواوورغلي پلاوي دمجاهدولس دسربندونواوهمکاريوډيره ستاينه اوقدرداني وکړه ،ټولوپه يوخوله دافغانستان څخه ديرغلګروعسکرواودهغوی دداخلي مزدورانودنابودی اوديواسلامي اوملي نظام داستحکام دعاوکړه .

په فراه ولايت کي مجاهدين ډيرفعال او په خورا حيرانونکي کثرت کي ووددښمن پرپوستواوقرارګاووپې پرله پسې حملې کولې ،له ډيروسيمودښمن پښې سپکې کړې وې ،پوستې اولوی لوی مرکزونه يې تخليه کړي وو.دښمن يوازې په ځينوخاصوسيموکي چي ډيری پخې قرارګاوي يې جوړي کړي وې شتون درلود،هغه هم په داسي شکل چي پرمجاهدينوپې بريدنه شوای کولای يوازې يې ځان ساتني ته پام کاوه .اتلومجاهدينوزبون دښمن پرهمدې حال هم ارام ته نه پرېښوده توغنديزبريدونه يې پرکول ،کمينونه يې ورته نيول ،په فراه کي چي دکندهار- هرات لويه اومهمه لارهم تېره شوې ،همدغه لارچي په لويديځ اوجنوب لويديځ کي ددښمن دقواووترټوله مهمه اکمالاتي لارده هميشه دمعرکې يوګرم ډګرپاته شوی دی ،پرهمدغه لارله شمال اوجنوب څخه مجاهدين ددښمن پوځي اولوژيستيکي کتارونه تراورلاندي نيسي ،دښمن ته دسراومال ډيرزيان اړوي اوغنيمتونه ترلاسه کوي .

دفراه ولایت په بیلابیلوسیمو کې مجاهدینو پردښمن کړی خوارډیره ورتنګه کړې ده لنډه داچې دجګړې ابتکارپه تمامه معنی داسلامي امارت دقهرمانومجاهدینوپه لاس کې دی ،نامراده غلیم په انتهایې ذلت اوشرمندګی کې شپې تیروي، وحشي یرغلګرچې له سیمې څخه تیښتي ته اړیستل کیږي داخلي اجیران یې دفوق العاده مایوسۍ سره مخ کیږي .

نبه ډیرهغه کسان چې ددښمن دتبلیغاتوښکارشوي اودکابل داجیررژیم سره یې کارکاوه پرخپل دغه عمل پښیمانه شوي دي دوی اوس دفراه ولایت په څېرپه نورولایتونوکې هم داسلامي امارت ددعوت اوارشادکمیسیون اوځایې مجاهدینوسره تماسونه نیسي په ډلو-ډلومجاهدینوته تسلیمیږي ډیری کسان له ځان سره سلاوي اوډیرمهمات هم اسلامي امارت ته سپاري .دوی ته داسلامي امارت له لوري دحفاظت تضمین اوپه تېره هغوکسانوته چې پردښمن یې حملې کړي وي سویې جایزې ورکول کیږي .

دفـــراه ولایـــت غښـــتلومجاهدینوموږددغه ولایـــت پرډیروسیمواوولســـوالیو وګرځولولـــه خپلوموفقیتونواوستونزویې خبرکړو ،دمشرتابه څخه ډیرخوشحال وو،چې دوضعیت دمعلومولوپه موخه پلاوي ورته لیږي اووخت پروخت لازمي سپارښتنې اوهدایات ورته کوي .

په فراه ولایت کې داسلامي امارت مجاهدین زموږتراټکل ډیرزیات فعال وو، موږچې دهیتۍ پرمهال ددوی سره ملګري وو،چې له یوې سیمې به موبلې ته سفرکاوه پرپیکپ موټربه موداسلامي امارت دامن اوشریعت سپین بیرغ رپاندو،اوله هرډول خوف پرته مودمقصودمنزل پرلورګامونه اوچتول، د فراه ولایت په مختلفوولسوالیوکې چې مودمجاهدینولاسته راوړني اوبرموراللیدداسي زیری یې راکاوه چې که خدای جل جلاله ته منظوروه په لنډراتلونکي کې به له ټول افغانستان څخه داشغال لمن تړله شي .

خلاصه داچې موږچې دفراه ولایت عمومي جهادي وضعیت له نژدې ولید،واقعیت دهغه څه چې یرغلګراودکابل اداره یې دعوه کوي اویاپه اصطلاح ازادورسینوکې وړاندې کیږي برعکس ؤ. دفراه ولایت له ډیرو پراخو سیمو اوساحو څخه مجاهدینویرغلګراوداخلي اجیران یې شړلي وو،مفتوحه سیمې دومره پراخې وې چې موږپه ورځوورځوپه موټرکې مزلونه پکې وکړل په داسي حال کې چې ددښمن څرک موهم پکې ونه لیده ،خلک داسلامي امارت دمجاهدینوخځه خوشحال ووخپلې ستونزې اومشکلات یې دامارت نظامي اوملکي اداروته راجع کول ،په ټوله کې دخلګودعدلي ،تعلیمي اقتصادي اواجتماعي ستونزودحل یوازینۍ مرجع اسلامي امارت وه .

صلوة الاوآبين

معنی اوتعریف یې :

مفتی ابو عاریه

اوابين : دلغوي معنی په لحاظ داواب جمع ده اوهغه چاته ویل کیږي چې یوه ګناه ځینې صادره شې اوسمدستي توبه وباسي . اودشریعت په اصطلاح کې صلوة الاوابين هغه شپږو،څلورو یاشلور کعتونو ته ویل کیږي چې دمابنام دلمانځه وروسته اداکیږي .

دأوآبینو دلمانځه فضیلتونه :

دأوآبینو لمونځ په حدیثو کې په درو طریقو ذکرشوي : یعني څلور رکعته ، شپږ رکعته ، اوشل رکعته اوپه حدیثو کې له وړاندینیو دروقسمونو څخه دهرقسم ځانګړي اجرونه اوثوابونه ذکرشوي دي :

مثلا :

دأوآبین دڅلورو رکعتونو فضیلت

في الطحطاوي على مراقي الفلاح ٣٩٠\١ : وعن ابن عباس رضي الله عنهما أنه عليه السلام قال: "من صلى أربع ركعات بعد المغرب قبل أن يكلم أحدا رفعت له في عليين وكان كمن أدرك ليلة القدر في المسجد الأقصى وهو خير له من قيام نصف ليلة".

ژباړه : دابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی : چې رسول الله [صلی الله علیه وسلم] وفرمایل : چاچې څلور رکعته دمابنام دلمانځه وروسته وکړو، مخکې تردې چې له یوچاسره خبري وکړي ،نولوی خدای [ج] به یې دغه لمونځ علیین ته پورته کړي . اوداسې به وي لکه دقدرشپه چې یې داقصی په مسجد کې موندلي وي ،اودغه لمونځ دده لپاره دنیمایې شپې ترلمانځه غوره ده .

تشریح : یعني څوک چې دمابنام دفرضو اوسنتو څخه وروسته سمدستي څلور رکعته نور دأوابینو دلمانځه په نیت په صحیح طریقه سره اداء کړي اوداعمل جاري وساتي ،نودالاندي دري اجره به ترلاسه کړي :

۱= لوی خدای به یې دغه لمونځ قبول کړي اوعلیین ته به یې پورته کړي . علیین ته هغه اعمال ځې چې الله تعالی قبول کړي اوخوښ کړي وي .

۲= په أوابینوبه دومره ثواب ترلاسه کړي لکه یوتن چې دقدرپه شپه ؛ داقصی په مسجد[یعني بیت المقدس] کې موندلي وي .

۳= اودأوابینو لمونځ دنیمایې شپې ترقیامه غوره ده .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: مَنْ أَدْمَنَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، كَانَ كَالْمُعَقِّبِ غَزْوَةً بَعْدَ غَزْوَةٍ .الزهدوالرقاق لابن المبارک ۱\۴۴۵

ژباړه : ابن عمر رضی الله تعالی عنه وایي :څوک چې تل دمابنام دلمانځه وروسته څلور رکعته لمونځ کوي نودومره ثواب به یې وي لکه له یوي غزا وروسته چې سړی بله غزا کوي .

دشپږو رکعتونوفضیلت :

په حدیثو کې دمابنام دلمانځه څخه وروسته دشپږو رکعتونو دثواب تذکره داسې شوې ده :

في المبسوط للسرخسي رح ۱\۱۵۷(وإن تطوع بعد المغرب بست رکعات فهو أفضل) لحدیث ابن عمر – رضي الله تعالی عنه – قال قال النبي – صلی الله علیه وسلم – «من صلی بعد المغرب ست رکعات کتب من الأوابین وتلا قوله تعالی {فإنه کان للأوابین غفورا} [الإسراء: ۲۵]

ژباړه : ابن عمر رضی الله تعالی عنه وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :څوک چې دمابنام دلمانځه وروسته شپږ رکعتونه وکړي نو داوابینو څخه به وګڼل شي . اوبیایې دآیة تلاوت کړ : فانه کان للاوابین ..... یعني بې شکه چې الله تعالی اوابینو ته دهغوئ دګناهونو بخشونکی دی .

تشريح : يعني لوی خدای جل جلاله به دأوايينو دلمانځه په برکت دغه تن دأوايينو له ډلي څخه کړي ، أوايين هغه خلګ دي چې په دنياکې يې له ګناهونو څخه ځان ساتلی وي ،او که کله کومه ګناه ځيني صادره شوي وي نوسمدستې يې توبه ايستلې وي ،اوالله تعالی يې توبه هم قبوله کړي وي .

ومثله في البدائع ۲۸۵\۱

ومثله في البحر ۵۴\۲

ومثله في الطحطاوي على مراقي الفلاح ۳۹۰\۱

وفي الاختيار ۶۶\۱ (وبعد المغرب ستا) عن أبي هريرة قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: «من صلى بعد المغرب ست ركعات لم يتكلم فيما بينهن بشيء عدلن له عبادة ثنتي عشرة سنة» رواه ابن ماجه برقم ۱۱۶۷والترمذي برقم ۴۳۵

ژباړه : دابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی : چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : چاچې دمابنام دلمانځه وروسته شپږ رکعته لمونځ وکړ اوددې لمانځه په مينځ کې يې خبرې ونه کړې نو دومره ثواب به ورکړل شي چې د ۱۲ کلونو دعبادت سره برابر وي .

وفي مراقي الفلاح والطحطاوي ۳۹۱\۱ وعن ابن عمر قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من صلى ست ركعات بعد المغرب قبل أن يتكلم غفر له ذنوب خمسين سنة".

ژباړه :دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :څوک چې دمابنام دلمانځه وروسته شپږ رکعته اداء کړي ؛ورانديې له دې چې خبرې وکړي ،نوددې دپنځوسو کلونو ګناهونه به ورباندې معاف شي .

وعن عمار بن ياسر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من صلى بعد المغرب ست ركعات غفرت ذنوبه وإن كانت مثل زبد البحر"

ژباړه : دعماربن ياسر رضی الله تعالی عنهماڅخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې دمابنآم دلمانځه وروسته شپږ رکعته أدآء کړي ددې ګناهونه به وبخښل شي که څه هم ددرياب دزګونو په څير زيات وي .

دشلور کعاتو أوآيينو فضائل

في الطحطاوي على مراقي الفلاح ۱\۳۹۰ وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أنه عليه السلام قال: "من صلى بعد المغرب عشرين ركعة بنى له بيتا في الجنة".

ژباړه : له ابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چاچې دمابنام دلمانځه څخه وروسته شل رکعته لمونځ وکړ نولوی خدای اجل جلاله ایه په جنت کې کور ورته جوړ کړي .

دأوابینو دلمانځه احکام

۱= دأوآبینو لمونځ سنت دی او که نفل ؟

دغه شپږ رکعته داوابینو لمونځ ؛ چې دمابنام تر لمانځه وروسته اداکیږي ، زمور فقهاؤ سنت ،مستحب اومندوب ګڼلي دي ، علامه شامي اوعلامه طحطاوي اونورو علماؤ سنت ،مستحب ،اومندوب دري واړه دسنتو بیلابیل نومونه ښودلي ،

الحاصل :داچې دأوآبینو لمونځ سنت دی .

وفي البحر ۲\۵۴ وذكر في التجنيس أنه يستحب أن يصلي الست بثلاث تسليمات

وفي مراقي الفلاح "و"ندب "ست" ركعات "بعد المغرب" لقوله صلى الله عليه وسلم: "من صلى بعد المغرب ست ركعات كتب من الأوابين".

وفي الطحطاوي ۱\۳۹۰ "المستحب من السنن" المستحب والمندوب والمرغب فيه والحسن ألفاظ مترادفة معناها واحد وهو ما رجح الشرع فعله على تركه .

وفي الموسوعة الفقهية ۲۷\۱۳۳ فقالوايستحب اداء ستة ركعات بعدالمغرب ليكتب من الاوابين .

۲= داوابینو لمونځ څور کعته دي ؟

داچې داوابینو لمونځ څور کعتونه دي ؟ نوپه دي هکله وړاندي دري ډوله روایتونه ذکر شوو ، چې په یوه کې شپږ ،په بل کې څلور ، اوپه بل کې دشل رکعتونو تذکره شوي ده .البته داحنافو فقهاؤ دشپږو رکعتونوروایت مختاره کړی دی . خودعامو فقهاؤ ،محدیثینو اومحقیقینو له عباراتو داسې معلومیږي چې په دغه دروطریقو کې چې هره طریقه اداء کړي نوهغه ګڼي دأوآبینو لمونځ أداء کړ او مذکوره ثواب یې په برخه کیږي ان شاء الله تعالی .

کمافي الطحطاوي ۱\۳۹۰ والبحر ۲\۵۴

في الطحطاوي على مراقي الفلاح ١\٣٩٠ : وعن ابن عباس رضي الله عنهما أنه عليه السلام قال: "من صلى أربع ركعات بعد المغرب قبل أن يكلم أحدا رفعت له في عليين وكان كمن أدرك ليلة القدر في المسجد الأقصى وهو خير له من قيام نصف ليلة".

وفيه ايضا ١\٣٩٠ : وعن ابن عمر قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من صلى ست ركعات بعد المغرب قبل أن يتكلم غفر له ذنوب خمسين سنة". وعن عمار بن ياسر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من صلى بعد المغرب ست ركعات غفرت ذنوبه وإن كانت مثل زبد البحر "وفيه ايضا ١\٣٩٠ وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أنه عليه السلام قال: "من صلى بعد المغرب عشرين ركعة بنى له بيتا في الجنة".

٣= دمابنام سنت په أوآيينو کې حساب دي او کنه ؟

علامه ابن نجيم رح په بحر کې ليکي : چې دمابنام دوه ركعته سنت په شپږو اوابينو کې شمار دي . لكن په طحطاوي على مراقى الفلاح اومنحة الخالق کې علامه شامي رح ليکلي دي چې شپږ ركعته اوابين دمابنام ددور کعتونو څخه علاوه دي ..

في البحر ٢\٥٤ الصلوة المسنونة كل يوم : وحكى في فتح القدير اختلافا بين أهل عصره في مسألتين الأولى هل السنة المؤكدة محسوبة من المستحب .... وفي الست بعد المغرب أو لا ؟ الثانية : على تقدير الأول هل يؤدي الكل بتسليمة واحدة أو بتسليمتين واختار الأول فيهما.

وتحته في المنحة قال الشيخ إسماعيل وفي المفتاح

وندب ست ركعات بعد المغرب يعني غير سنة المغرب لقوله - عليه الصلاة والسلام - «من صلى بعد المغرب ست

ركعات لم يتكلم فيما بينهن بسوء عدلن عبادة ثنتي عشرة سنة» كذا في الإيضاح اهـ.

وفي الطحطاوي ١\٣٩١ على مراقي الفلاح وقد عطفنا المندوبات على المؤكدات كما في الكنز وغيره من المعتبرات وظاهره المغايرة فتكون الست في المغرب غير الركعتين المؤكدتين.

۴= أوآيين په يوه سلام دي او..... ؟

داچې دأوآيينو لمونځ څلور يا شپږ ياشل ركعته دي ، علامه شامي رح دغزنويه اونورو په حواله نقل کړي بلکه أثر هم په کې موجود دی : چې شپږ ركعتونه به په دري سلامه باندي أدآء کوي . نوله دې عباراتو

معلومېږي چې که څوک څلور یاشل رکعته کوي نو هم دغه دشپږو رکعتونو په طریقه دي أدآء کوي .یعني په هر دوه رکعته دي سلام ګرزوي . اودتراویحو په شکل دي کوي .

في المنحة الخالق على البحر ۲\ ۵۴ وفي الغزنوية وصلاة الاوابين وهي ما بين العشاءين ست ركعات بثلاث تسليمات .... وكذلك صرح في التجنيس وغرر الأذكار بأنها بثلاث تسليمات ثم قال في الغرر الأذكارية وفسره يعني أنسا راوي الحديث بثلاث تسليمات اهـ.

كلام الشيخ إسماعيل ثم قال مع أن الحديث يشير إلى ذلک حيث قال لم يتكلم فيما بينهن بسوء إذ مفهومه أنه لو تكلم بخير استحق الموعود اهـ فظهر أنها ست مستقلة كما هو صريح المفتاح وظاهر شرح الغزنوية وأنها بثلاث تسليمات وإن قال في الدرر والتنوير أنها بتسليمة واحدة قال الرملي والذي يظهر لي في وجه الفرق بين هذه الست وبين الأربع في الظهر والعشاء أنها لما زادت عن الأربع وكان جمعها بتسليمة واحدة خلاف الأفضل لما تقرر أن الأفضل فيهما رباع عند أبي حنيفة - رحمه الله - ولو سلم على رأس الأربع لزم أن يسلم في الشفع الثالث على رأس الركعتين فيكون فيه مخالفة من هذه الحيثية فكان المستحب فيه ثلاث تسليمات ليكون على نسق واحد هذا ما ظهر لي من الوجه ولم أره لغيري فليتأمل اهـ وهو حسن

۵= أوآيين دصلوة الاوابينو په نيت أدآء کېږي .

علامه شامي رح په منحة کې ليکلي :چې دأوآيينو لمونځ به دأوآينو په نيت أدآء کوي .

وفي المنحة على البحر ۲\ ۵۴: قال أبو البقاء القرشي في شرحها يصلي ست ركعات بنية صلاة الأوابين .

۶= کوم سورتونه په أوابينو کې ويل کېږي ؟

همدارازعلامه شامی رح ليکلي : چې دأوآيينو دلمانځه په هر لمړي رکعت کې دفاتحې وروسته به قل ياأيها الكافرون ، اوپه دوهم رکعت کې دري ځله قل هوالله احد يعني سورة الاخلاص وايي :

في المنحة :على البحر ۲\ ۵۴: قال أبو البقاء القرشي في شرحها يصلي ست ركعات ... يقرأ في كل ركعة بعد الفاتحة {قل يا أيها الكافرون} {الكافرون: ۱} مرة {قل هو الله أحد} {الإخلاص: ۱} ثلاث مرات قاله الشيخ عبد الله البسطامي اهـ.

پیدایښت او ژوندلمړنی مراحل

ترتیب کونکی ح (ظریف)

شهید ملا محمدنسیم (قاصد) چې په کاکو سره یې شهرت درلود د حاجي (شاه محمد) اکازوی د کندهار ښار په (محل نجات داځکزو کلاچې) په کلي کې تقریبا ۴۵ کاله وړاندې په یوه دینداره کورنۍ کې ودنیاته راغلی نوموړی ابتدایي زدکړې دخپل والد صاب پر اکا مرحوم ملا لعل محمد آخند چې دزیات شمیر شاګردانو استاذ او همدایې دنده وه تر سره کړې او دخورا ښه قرأت اوښکلي اواز درلودنکي په توګه یې په سیمه کې شهرت درلود نوموړی شهید دهم هغه پیله ډیرصالح امین او له خدایه په واقعي ډول ویریدونکی څوک وو او ژوند یې له غدر خیانت او نفاق څخه ډیر پاک وو له کوچني توب نه دښو اخلاقو مینې او غیرت یوه نمونه وه

دشوروي یرغل په وړاندې دنومړي جهادي بهیر

کوم وخت چې سرو لښکرو پر افغانستان تیری وکړ نو ښاغلی قهرمان په ډیره کم عمرې کې دمجاهدینو سره یو ځای وسنګر ته ودانګل او دجهاد دشروع لمړی مرکزیې دکندهار ار غنداب وو او تر هغه ورسته یې په بیلابیلو جبهو تو کې جهادي خدمات تر سره کړه او تر هغه وخته یې چې روسانو او ددوی ګوډاګیانو ماته خوړله خپل جهادي سنګر تود ساتلی وو نوموړي په چریکي بریدونو جهادي تاکتیکونو او له دښمن سره په مخامخ جګړو کې له هم هغه پیله خورا مهارت درلود دده دجهاد او چریکي عملیاتو کیسې خو ډیرې دي خو دبیلګې په توګه یې دکوچني والي ددورې دجهادي خدمت دا یوه قصه را اخلم چې یو مجاهد راته قصه کوله چې مور دکندهار په محله جات کې په څو ورځني جنګ اخته وو خلقیانو شاوخوا لاري

بندی کړي او دجګړې سيمې ته يې څه نه را پريښودل چې بالآخره دډوډۍ له سخت کمبود سره مخ شوو نو محمد نسيم وويل چې دا کار زه کوم مورچې دده وکشر توب ته وکتل نو مو باور نه راته چې دا کار دي وکړي خو دادی دی ولاړ يو وخت که ګورو ډيره ډوډۍ يې را رسولې ده چې کله مو ورځخه وپوښتل چې دخلقيانو تر ځنځيرانو دي څرنګه را تيره کړله ده په خندا کې راته وويل چې کله به خلقيانو ددومره ډيرې ډوډۍ دوړلو پوښتنه را څخه وکړه نو مابه په زړغوني آواز ورته وويل چې نيکه مې مړ شو اوس ختم ورپسې کوو بس دوی به هم اجازه راکړله چې څه

په خپل منځي جګړوکې دده کردار

کله چې روسان او ددوی ګوډاکی کمونيستي او خونخوار حکومت له منځه ولاړی او په ټول هيواد خصوصا کندهار کې دمجاهدينو دځينو جبهو تر مينځ درونکې او بدنام جنګونه پيل شول نوموړی پر کور کښينوستی او دکور په کار بوخت شو په همدغه وخت کې يې دتصوف سره خاصه مينه پيدا سوه چې بيا په همدې سلسله کې دهغه وخت ديو ماذون خليفه مريد سو په همدغه ارخ کې ډير مخته ولاړی ډير عبادت او ذکر بې کاوو او خپلو ملګرو ته به يې هم ددې توصيه کوله چې ځانونه له خپل منځي جګړو او نورو مفاسدو وژغوري او دځانونو اصلاح ته متوجه شي.

دطالبانو په اسلامي تحريک کې دنوموړي فدا کاری او خدمتونه

کله چې دامير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد حفظه الله تر قيادت او مشری لاندې دطالبانو اسلامي تحريک دفساد ، ټوپکسالاری ، ځنځيرونو دليرې کولو او دجهاد داصلي اهدافو دتر لاسه کولو لپاره حرکت پيل کړ نو يو په لومړيو کسانو کې ملا محمد نسيم وو چې داسلامي تحريک په چوکاټ کې يې دفساد پر ضد دشهيد قهرمان حاجي ملا محمد اخوند تر مشری لاندې خپل جهاد ته ادامه ورکړه او دده مرحوم سره يې وړه پر وړه دجهاد سنګر ګرم ساتلی وو کله چې هغه دسماعيل خان دقواو سره دحق او باطل په جګړه کې شهيد شو نو يې له بناغلي محترم ملا برادر اخند سره خپلې ملګرتيا او جهادي خدمت ته ادامه ورکړه دغرب په طرف کې داسماعيل خن دقواو سره دمجاهدينو په څنګ کې په ډيره ميړانه وجنګيدی کله چې دسماعيل خان قواوي دهلمند ګرشک ته را ورسيدل په دغه وخت کې نوموړی په ميدان ښار کې وو دمرحوم الحاج ملا محمد رباني ، شهيد ملا مشر آخند او نورو مشرانو سره يو ځای دميدان ور دګو دجهادي ليکو څخه دسماعيل خان دقواو دنور پيشرفت دمخنيوي په مو خه

کندهار او بیا دهلمند کرشک ولسوالی ته بیله دې چې په کور کې ارام وکړي وخوځید او هلته تر هغو پاته سو تر څو چې هرات او شاوخوا ولایتونه او سیمې دمجاهدینو لخوا فتحه سوې

د کونړ ولایـت دمـانوګي ولسوالی په سوندرۍ سیمه کې داجیـري اردو پـه دوو پوسـتو وسـلوال بریدونـه ترسـره شول، په برید کې دواړه پوسـتې پـه بشـپړه توګـه وسـوزول شوې او ۱۰ تنه عسکر پکې ووژل شول. ورسته سیمې تـه نور عسکر راغلل چې پـه هغوئ هم وسلوال بریدوشو. پـه بریـد کې ۱ زغـروال ټانک او ۴ ربړنجر موټر پوره تخریـب شـول. ۲ عسـکر مړه او ۵ نـور شـدیدټپیان شـول. پـه جګړه ۲ تنه مجاهدین ټپیان شول. ۲۱-۱۱-۲۰۱۳

مانوګي کې په ټانک چاودنې ۳ عسکرووژل

د کونړ ولایـت دمـانوګي ولسـوالی پـه ریچـلام سیمـه کـې داجیـري اردو زغـروال ټانـک پـه مـاین والـوزول شـو، پـه چاودنـه کې ۳ تنـه عسـکر مړه. ۱ عسـکر سـخت ژوبـل او ټانک په پوره ډول تخریب شو. ۲۱-۱۱-۲۰۱۳

کونړ مرکزته نژدې داجیري اردو په کنډک بریدوشو

د کونړ ولایت مرکز اسعدآباد ته نژدې په شګې سیمه کې داجیري اردو په کنډک وسلوال بریدترسره شو. دبریدله املـه دکنډک ودانی تخریب شوه خو دمرګ ژوبلې پـه هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۳-۱۱-۲۰۱۳

سرکانوکې اشغالګرو ۱ ملکي وګړی بندي کړ

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالی پـه دوسر کـه سیمه کې اشغالګروعسکرو دعامو خلکو په کورونو چاپـه ووهله او د وحشیانه تلاشي په مهال یې کلیوال سخت ووهل او یو تن یې له ځان سره یووړ. ۲۳-۱۱-۲۰۱۳

مانوګي ولسوالی ودانی په هلوان وویشتل شوه

د کونړ ولایت دمانوګي ولسوالی و دانی دهاوان په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې پوره زیانمنه شوه او ۲ پولیس پکې سخت ژوبل شول. دغه رازد ریچلام په سیمه کې داجیري اردو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. چې پـه مهال یې ودانی تخریـب اوپکې میشتوعسـکرو تـه مـرګ ژوبلـه واوښته. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

سرکانوکې داجیري اردو په ګزمه بریدوشو

د کونړ ولایـت دسـرکانو ولسـوالی پـه نواپـاس سیمـه کې داجیري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو. دبریدپه مهـال دښـمن تـه درنـه مـرګ ژوبلـه اومـالي تلفـات واوښتل. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

اسمارکې په پوسته برید، ۳ عسکرمړه اوژوبل شول

د کونړ ولایت داسمار ولسوالی په پلوسي نلوسیمه کې داجیري اردو په پوسته وسلوال بریدترسره شو. دبریدپه مهال ۱ عسکر مړ او ۲ نور شدید ټپیان شول. په دې سربیره د پوستې ودانی هم تخریب شوه. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

سرکانو کې داجیري اردو په ګزمه بریدوشو

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په رشکۍ توپ سیمه کې داجیري اردو په عسکرو وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې ۲ عسکر ټپیان شول او نور په تېښته بریالي شول. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

دانګام کې ۳ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ په بیلګات سیمه کې داجیري اردو په عسکرو وسلوال بریدترسره شو. دبریدپه مهال ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور شدید ټپیان شول. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

مروره کې په ټانک چاودنې ۴ عسکر ووژل

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په مورګام سیمه کې داجیري اردو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانک پوره تخریب او ۴ تنه عسکر ووژل شول. ۲۵-۱۱-۲۰۱۳

اسمار کې ۳ یرغلګر وته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په پلوسي ناوسیمه کې له یرغلګرو عسکرو سره خونړۍ نښته وشوه. په نښته کې ۲ یرغلګر مړه او بل سخت ژوبل شو. دجګړې په مهال په سیمه ددښمن الوتکو بمبار هم وکړ خو چاته پکې زیان نه واوښت. ۲۵-۱۱-۲۰۱۳

دانګام ولسوالۍ، په ودانۍ اوسرحدي کنډک په هتاد پنځو ویشتل شول

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ په ودانۍ اوورته نژدې د سرحدي پولیسو په کنډک دهغتاد پنځ بریدترسره شوچې په مهال یې ۴ مرمۍ دولسوالۍ په ودانۍ اویوه په سرحدي کنډک کې ولګیده. دبریدله امله دښمن ته تلفات واوښتل خو په هکله یې شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۲۶-۱۱-۲۰۱۳

سرکانو کې ددښمن په موټرو برید. ۸ پولیسو وته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په ناوه سیمه کې دسرحدي پولیسو په ۱۰ ربنجر موټرانو وسلوال بریدترسره شو. دجګړې په ترڅ کې ۴ پولیس مړه، ۴ نور مرګوني ټپیان شول او په دې سربېره ګڼ موټر هم تخریب شول. ۲۶-۱۱-۲۰۱۳

چپه دره کې ۶ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د چپه دري ولسوالۍ سینزو سیمې ته داجیري اردو عسکر دبیس جوړولو په موخه راغلي وو چې دمجاهدینو له بریدسره مخ شول. دبریدپه مهال ۲ عسکر مړه او ۴ نور شدید ټپیان شول. ۲۷-۱۱-۲۰۱۳

لغمان

علینګار کې ټانکر دماین خوراک شو

د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ د بابا قلعه په سیمه کې ددښمن د اوبو ټانکر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانکر له منځه لاړ او چلونکی یې سخت ټپي شو. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې په ټانک چاودنې ۷ عسکر مړه اوژوبل کړل

د لغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په باباقلعه سیمه کې داجیري اردو زغروال ټانګ په ماین والوزل شو. په چاودنه کې ټانک تخریب، ۱ عسکر مړ او ۶ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

لغمان مرکزته نژدې ماین یواربکی ټپي کړ

د لغمان ولایت مرکز مهترلام ته نژدې په بدیع اباد سیمه کې داربکیانو په ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې یو اربکی سخت ژوبل شو. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې پوسته تربریدلاندې راغله

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په سرخکانو سیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې ۳ عسکر سخت ژوبل شول او د پوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

دلغمان په قرغیو کې ۳۶ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په تورغر سیمه کې ۳۶ تنه داجیري اردو، سپیشل فورس عسکر او پولیس د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په پایله کې د اسلامي امارت په حقانیت پوه او له مخالفت نه یې لاس واخسیت، په راکړل شوي خبر کې د عسکرو نومونه په دې ډول دي: سردارولي، عیسی خېلو، سرور خان، زین الله، قیس، گل محمد، هاشم، طاوس خان، میر آغا، سیدخان، ذاهد خان، محمد آغا، نوراني، زمري، محمد یونس، دوست محمد، شانور، محمد یونس، محمد نور، گل خان، سیدامیر خان، اختر محمد، محمد یونس، سمیع الله، مطیع الله، لا آغا، مجیب گل، یار محمد، آغاگل، محمد حلیم، شهباز، عبدالهادي، غیرت، نور سید، باچا او حضرت محمد. ۲۰۱۳-۱۱-۰۲

علینګار کې پوسته په هشتادوو ویشتل شوه

دلغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ کې داجیري اردو پوسته دهشتادوو په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه. دبریدلې امله ۲ عسکر سخت ټپیان شول او د پوستې ودانۍ هم تخریب شوه. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې په بیس میزایل وار شول

دلغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په ګمبیري ډاګ سیمه کې د دښمن بیس په ۴ میزایلو دقیق وویشتل شو. دبریدلې امله دښمن ته څاني او مالي تلفات واوښتل خو په هکله یې شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې په کنډک بریدتر سره شو

د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په منګو سیمه کې داجیري اردو په کنډک وسلوال برید تر سره شو. دبریدلې امله ۲ عسکر ټپیان شول او د کنډک ودانۍ پوره تخریب شوه. وروسته د دښمن الوتکو په سیمه درنه بمباري وکړه چې له امله یې ۱ عام وګړی شهید او ۴ ټپیان شول. انا لله وانا الیه راجعون. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

اجیرو عسکرو د لغمان مرکزته نژدې سیمې نه ۴ عام وګړي یووړل

د لغمان ولایت په تناګ سیمه کې داجیري اردو عسکرو دعامو خلکو په کورونو چاپه ووهله او ۴ تنه کلیوال یې له خان سره یووړل او بندیان کړل. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې ۱۸ عسکر مجاهدینو سره یوځای شول

په لغمان ولایت د قرغیو په ولسوالۍ کې ۱۸ تنه عسکر چې په اجیري اردو، سپیشل فورس او پولیسو کې دنده ترسره کوله له جاهدینو سره یوځای شول. په عسکرو کې محراب ګل، تاج محمد، نور زمان، عبدالشکور، عبدالقهار، سردار، کمال خان، مرجان، فرید الله، زمري، تاج محمد، بارکزي، جان محمد، سیداغا، قندا غا، نعیم خان، حیدر خان او جهانګیر خان شامل دي. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې ۱۱ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

د لغمان ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې ۱۱ تنه عسکر (محمداسلام، حضرت محمد، تراب، صفت الله، حنیف الله، لیاقت، مجاهد، عزت الله، خماري، شمس الحق او انعام) د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یوځای شول. ۰۷-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې داربکیانو ګزمه تر بریدلاندې راغله

دلغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په پراوي سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید تر سره شو چې په مهال یې ۱ اربکی سخت ژوبل شو. ۰۷-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې پوستې تر بریدلاندې راغلې

دلغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ د وطن کټو او دوبرجه سیمو کې داجیري اردو په پوستو وسلوال بریدونه تر سره شول، دبریدونو له امله دښمن ته مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل خو په هکله یې شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې ۲ موټر، ۲ ټانګونه تخریب او ۲ یرغلګر ووژل شول

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په استحکام پله سیمه کې دیرغلګرو عسکرو په موټریز کاروان وسلوال بریدترسره شو، په برید کې ددښمن ۱ کروزین او یوله موادو بار کانټینر موټر او دغه راز دوه زغروال ټانګونه پوره تخریب شول، له دې علاوه ۲ یرغلګر عسکر مړه او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

دلغمان په قرغیو کې ۲۷ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

دلغمان ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې ۲۷ تنه عسکر چې داجیري اردو، پولیسو، په اصطلاح ملي امنیت او کماندوز عسکرو کې یې دندي ترسره کولې د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په پایله کې د اسلامي امارت په حقانیت پوه له مجاهدینو سره یوځای شول، په عسکرو کې اجمل، شاه ولي، منیب، شیربهادر، یوسف خان، میرویس، فرید الله، ښائسته ګل، عمران، شیر احمد، خیال محمد، محمد نذیر، عتیق الله، ذاکر الله، محمد نذیر، اعجاز الحق، محمد اسلام، خیر محمد، جان محمد، شاه ولي، حضرت علي، سید خان، شاه محمد، امیر محمد، نور حسن، عجب ګل او رحیم ګل شامل دي. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې ۲ موټر تخریب شوي

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په وریښمن تنګي سیمه کې ددښمن په کاروان وسلوال بریدترسره شو، په برید کې ۱ کانټینر او یو دملي امنیت رینجر موټر په پوره ډول تخریب شول. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

لغمان مرکزته نژدې په بیس میزایل وار شول

دلغمان ولایت مرکزته نژدې په علي خېلو سیمه کې داشغالګرو عسکرو په بیس میزایل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له امله یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

دلغمان په قرغیو کې ۲۶ عسکر مجاهدینو سره یوځای شول

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په نورغر سیمه کې ۲۶ تنه عسکر چې داجیري اردو او پولیسو په لیکو کې یې دندي ترسره کولې د دعوت او اشاد کمیسیون دهڅو په برکت داسلامي امارت په حقانیت پوه او له ګوډاګۍ اداري نه جلاشول، په عسکرو کې اختر ګل، اول خان، فضل حق، سحر ګل، سرمعلم، اول خان، سلمان، شین ګل، سردار، عوض، خالد، عزیزمحمد، عزت الله، زین الله، وزیر، نیک محمد، اسلم، سمیع الله، میرویس، محمد رسول، عبدالبصیر، دین محمد، تراب، نیک محمد او لال بیک شامل دي. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې په پوسته او ګزمه برید، ۴ عسکر مړه او ژوبل شول

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ دقلعه نجیل سیمه کې ددښمن په ګزمه او پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دپوستې ودانۍ زیانمنه او بوشمېر موټرهم تخریب شول، له دې علاوه ۲ عسکر مړه ۲ نور شدید ټپیان شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې ددښمن په ګزمه بریدوشو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ دشمرام په سیمه کې ددښمن په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن نه درانه مالي تلفات واوښتل او په دې سربېره دوه تنه عسکر ټپیان شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې په بیس بریدترسره شو

دلغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په قلعه نجیل سیمه کې داجیري اردو په بیس وسلوال برید ترسره شو، دبریدله امله دبیس ودانۍ تخریب او یو عسکر سخت ژوبل شو. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

دولت شاه کې په پوستو بریدونه وشول

دلغمان ولایت ددولت شاه ولسوالۍ دشاهي، ړنګي او کنداکوري سیمو کې داربکیانو په پوستو وسلوال بریدونه

ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۳ تنه اربکیان سخت ژوبل شول او دپوستو ودانۍ هم زیانمني شوې. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې یو عسکر په دراز کوف وویشتل شو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کټو سیمه کې داجیري اردو یو عسکر په دراز کوف په نښه او وویشتل شوچې ځای په ځای ووژل شو. دغه راز دیادي ولسوالۍ په غازي اباد سیمه کې داربکیانو په موټریزه ګزمه هم وسلوال برید ترسره شوچې په ترڅ کې یې ۲ اربکیان ژوبل شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

په لغمان کې ۱۰ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

په لغمان ولایت کې داجیري اردو، پولیسو او کماندوز ۱۰ تنه عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول، په عسکرو کې کمین، شهزاده، محمدهاشم، خان آغا، عبدالله، ځاځي، نیازمحمد، داود، عوض او عبدالله شامل دي. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

دولت شاه ولسوالۍ په ودانۍ او ګزمو برید. ۵ عسکر ووژل شول

د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په ودانۍ او د بانډه دور په سیمه کې ددښمن په عملیاتي عسکرو وسلوال بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ۵ عسکر مړه او ۳ نور شدید ټپیان شول. ددښمن دمتقابلو ډزو له امله ۱ زنانه ټپي شوه او خلکو ته مالي زیانونه واوښتل. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

مرکزته څېرمه په پوسته بریدوشو

د لغمان ولایت مرکز مهترلام ته نژدې په اکین اباد سیمه کې داربکیانو په پوسته دوسلوال برید له امله دښمن ته درانه مالي اوځاني تلفات واوښتل. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې ۳ اربکیان مړه او ژوبل شول او زیاته وسله غنیمت شوه

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په حاجي قلعه، نیم نانی او کوټاخېلو سیمو کې له اربکیانو سره خونړۍ نښته ترسره شوه، په نښته کې ۱ اربکی مړ او ۲ نور ژوبل شول، دجګړې په مهال ۱ میله پیکا ماشیندار له ۲ بکسې مرمیو سره، ۵ دراکټ لانچر مرمۍ او ګڼ نور مهمات او وسلې غنیمت شوې. په جګړه کې ۲ تنه مجاهدین ټپیان شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې ددښمن په کاروان بریدوشو

د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ د غازي اباد په سیمه کې ددښمن په کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. همدا راز دیادي ولسوالۍ په وطن کټو سیمه کې یو ځل بیا په کاروان برید ترسره شوچې په مهال یې ۱ تن عسکر ټپي او ګڼ شمېر موټر تخریب شول. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې په کاروان بریدوشو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په قلعه نجیل سیمه کې داجیري اردو په کاروان برید ترسره شو، دبرید په مهال ۲ عسکر ژوبل او ګڼ شمېر موټر تخریب شول. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

دولت شاه ولسوالۍ په ودانۍ او کاروان برید. ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په ودانۍ او د تنګي او بانډه دور سیمو کې داجیري اردو په کاروان وسلوال بریدونه ترسره شول، دبریدونو په ترڅ کې ۲ تنه عسکر مړه او ۳ نور ټپیان شول. په دې سربېره د ولسوالۍ ودانۍ هم پوره تخریب شوه. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې په کاروان بریدونه. ۹ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په کوټالي او غازي ترمنځ سیمه کې داجیري اردو، اربکیانو او پولیسو په موټریز کاروان وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال ۱ عسکر مړ او ۳ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ګڼ شمېر موټر هم تخریب شول. دغه راز په وطن کټو سیمه کې په کاروان دبرید په مهال ۲ عسکر ژوبل شول او د جبین ډاګ په سیمه کې ۱ عسکر مړ او ۱ پولیس، ۱ اربکی سخت ژوبل شول. ۲۰۱۳-۱۱-۱۴

علیشنګ کې په کاروان برید. ۱ موټر تخریب او ۱ عسکرووژل شو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په بادرو او شمرام ترمنځ سیمه کې ددښمن په کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر مړ او بل سخت ژوبل شو. په دې سرپره یو رېنجر موټر هم تخریب شو. ۱۵-۱۱-۲۰۱۳

لغمان کې ۱۲ عسکر مجاهدینو سره یوځای شول

دلغمان ولایت مرکزته نږدې په نورغر سیمه کې ۱۲ تنه عسکر له مجاهدینوسره یوځای شول. یادعسکر هریوخاني، نیاز محمد، باور ګل، عوض خان، عبدالله، محمد اسحاق، خان محمد، محمد اسلام، ملستان، لال آغا، الف خان او محمد ابراهیم دجلب او جذب کمیسیون ددعوت په برکت داسلامي امارت له مخالفت نه لاس په سر شول. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

بادپخ کې اربکی په درازکوف وویشتل شو

دلغمان ولایت دبادپخ ولسوالۍ په رحماني سیمه کې یو اربکی په درازکوف په ښنه او وویشتل شوچې ځای په ځای ووژل شو. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې په کاروان چاودنه اوبریدو شو

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په کنده رجې سیمه کې داجیري اردو په موټریز کاروان چاودنه او وسلوال برید ترسره شو. دچاودنې له امله یوموټر تخریب او یو عسکر ټپي شو. په برید کې هم دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې په پوسته اوګزمه برید. ۵ عسکر مړه اوژوبل شول

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په مشلي کمر سیمه کې داجیري اردو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. دبرید له امله دپوستې ودانۍ زیانمنه او ۲ عسکر یې سخت ژوبل شول. دغه راز په یاده سیمه کې دجلال اباد دعمومي سرک په سر داجیري اردو په ګزمه هم وسلوال برید ترسره شوچې په ترڅ کې ۲ عسکر مړه او بل ژوبل شو. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

دولت شاه کې په ۲ پوستو برید. ۶ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دلغمان ولایت ددولت شاه ولسوالۍ په دفاعي پوسته او په بانډه دور سیمه کې ددښمن په ۲ پوستو وسلوال برید ونه ترسره شول، دبرید له امله دپوستو ودانۍ زیانمنې، ۳ عسکر مړه او ۳ نور ژوبل شول. په جګړه کې ۱ مجاهد دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انا لله وانا الیه راجعون. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

بادپخ کې په پوسته برید وشو

دلغمان ولایت دبادپخ ولسوالۍ د محمود ستاپ په سیمه کې داربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شوچې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې مایې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واروله

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په زرکمر سیمه کې داربکیانو په پلي ګزمه چاودنه وشوه. چاودنې ۱ اربکی وواژه او ۲ نور یې مرګونې ټپیان کړل. ۲۰-۱۱-۲۰۱۳

قرغیو کې ۴ تانکونه، ۷ موټر او ۱۱ عسکرووژل شول

دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ په ریشمني تنګي، مشلي کمر او سوري تیګه سیمو کې ددښمن په قطار وسلوال برید ترسره شو. داوردمهالي جګړې په ترڅ کې ۴ زغروال تانکونه، ۵ رېنجر، ۱ امبولانس او ۱۱ کمالاتي کانټینر موټر په پوره پول تخریب شول. له دې علاوه ۱۱ عسکر مړه او ۱۵ تنه نور مرګونې ټپیان شول. دجګړې په پای کې په سیمه ددښمن الوتکو درنه بمباري وکړه خو لله الحمد چاته یې زیان نه واوښت. ۲۱-۱۱-۲۰۱۳

علیشنګ کې ۱ اربکی قتل اوبل ټپي شو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په صابر اباد سیمه کې د اربکیانو سره نښته وشوه. دنښتې په ترڅ کې ۱ اربکی مړ او بل ټپي شو او نور په تښتنه بریالي شول. ۲۲-۱۱-۲۰۱۳

لغمان مرکزته خبره پوسته ترپریدلاندې راغله

د لغمان ولایت مرکز مهترلام ته نژدې په شمټیو سیمه کې د پولیسو په پوسته وسلوال برید تر سره شو، دبریدلـه امنـه دښمن تـه داوښتو تلفاتو په اړه دقیـق معلومات نشته. ۲۲-۱۱-۲۰۱۳

علینګار کې ماین د ۲ عسکرو ژوند واخیست

دلغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په لوکاټ سیمه کې داجیري اردو پـه پلې ګزمـه دښـخ کـړل شـوي مـاین چـاودنې ۲ تنـه عسکر مړه او ګڼ نور ژوبل کړل. ۲۳-۱۱-۲۰۱۳

لغمان کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یوځای شول

د لغمـان ولایـت د مرکز اړوند په تورغر سیمه کې ۴ تنـه عسکر (تـاج محمـد، حیـدر خان، عیدمحمـد او عبـدالله) د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت په برکت له مجاهدینو سره یوځای شول. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

دولت شاه کې په پوسته برید وشو

دلغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ د کندي نټو په سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال برید تر سره شوچې له امنـه یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۲۵-۱۱-۲۰۱۳

لغمان مرکزته نژدې داربکیانو پوسته وسوزول شوه

د لغمـان ولایـت مرکزتـه نـژدې پـه شـمټیو سـیمه کـې داربکیانو پوسته دمجاهدینو تر بریدلاندې راغله چې له لږ مقاومـت وروسـته فتحـه شـوه او وروسـته وسـوزول شوه. دبریدپه مهال ۴ تنه اربکیان ټپیان شول او نور تري په تېښته بریـالي شول. په پوسته کې د دښمن ۱ عـراده رېنجر موټر او ۲ موټر سایکل هم وسوزول شول. په جګړه کې یو مجاهد د شهادت لوړ مقام تـه ورسېد. انـاالله وانـاالیـه راجعون. ۲۶-۱۱-۲۰۱۳

لغمان کې ۵ مامورین مجاهدینو سره یوځای شول

د لغمان ولایت مرکزتـه نژدې پـه تورغر سیمه کې ۵ تنـه مامورین (خوشحال، یارګل، ذبیح الله، الف خان او ډاکټر سیف الله) د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت او سیمه ییـزو مجاهـدینو د هڅـو پـه برکـت داسـلامي امـارت لـه مخالفت نه لاس په سر شول. ۳۰-۱۱-۲۰۱۳

لوګر

برکي برک کې له یر غلګرو سره نښته وشوه

دلوګر ولایت دبرکي برک ولسوالۍ په زمان خېلو کې له یر غلګرو عسکرو سره درنه نښته وشوه چې په ترڅ کې یې دښمن تـه درنـه مـرګ ژوبلـه اومـالي تلفـات واوښتل. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

لوګر مرکزته څېرمه چره دار ماین یو عسکر وواژه

دلوګر ولایت مرکزته څېرمه په نوي کلا سیمه کې داجیري اردو په پلې ګزمـه د چـره دار مـاین چـاودنې ۱ تـن عسکر وواژه اویو بل عسکر یې سخت ژوبل کړ. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

لوګر مرکزته نژدې ۲ عسکر ووژل شول

دلوګر ولایـت مرکـز پـل علـم تـه نـژدې پـه درویـش سـیمه کـې داجیـري اردو پـه ګزمـه وسـلوال بریدتر سـره شـو، په بریـد کې ۲ عسکر ووژل شول او ګڼ نور ټپیان شول. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک ولسوالۍ ودانۍ په هاوان وویشتل شوه

دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ ودانۍ دهلوان په ۲ مرمیو دقیـق وویشـتل شـوه چې لـه امنـه یې ودانۍ زیانمنـه او پکې میشتو عسکرو تـه مـرګ ژوبلـه واوښتـه. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک کې په یر غلګرو بریدتر سره شو

دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په شاه مزار سیمه کې د یر غلګرو عسکرو پـه ګزمـه وسـلوال بریدتر سـره شـو، په بریـدکې دښـمن تـه درنـه مـرګ ژوبلـه اومـالي تلفـات واوښتل. دغه راز دیادي ولسوالۍ په الادادخېلو سیمه کې د یر غلګرو په پلې ګزمه وسلوال بریدتر سره شوچې درنه مرګ ژوبله پکې ورته واوښته. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک کې ۳ یرغلګرو ته مرګ ژوبله واوښته

دلوګرولایت دبرکي برک ولسوالۍ په اخوندخېلو سیمه کې په یرغلګرو عسکرو وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې ۲ عسکرمړه اوبل سخت ژوبل شو. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته څېرمه په کمپاین میزایل وارشول

د لوګرولایت مرکزپل علم ته نژدې په خدرسیمه کې داشغالګروپه کمپاین میزایل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې چاودني ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

دلوګرولایت مرکزته نژدې په خدرسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه دچاودني له امله ۱ عسکر ووژل شو او ۳ نور یې شدید ټپیان شول. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک کې ۷ اشغالګرو ته مرګ ژوبله واوښته

دلوګرولایت دبرکي برک ولسوالۍ دکوتي خېلو په سیمه کې له یرغلګرو عسکرو سره نښته ترسره شوه، په نښته کې ۳ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې چره دارماین ۲ اربکیان ووژل

دلوګرولایت په مرکزي سیمه حصارک کې داربکیانو په پلې ګزمه دچره دارماین چاودني ۲ تنه اربکیان مړه اوګڼ نور ژوبل کړل. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې کمپاین په میزایلو وویشتل شو

د لوګرولایت مرکزته نژدې په خدرسیمه کې ددښمن کمپاین یوځل په ۲ میزایلو او بیا په ۱ میزایل دقیق وویشتل شو، په بریدکې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته څېرمه په ټانک چاودني ۲ عسکر ووژل

دلوګرولایت مرکزپل علم ته نژدې په ډبر سیمه کې داجیري اردو زغروال ټانک په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شواوپکې ناست عسکر ۲ تنه مړه او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۵-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته څېرمه کمپاین په هشتاددو وویشتل شو

دلوګرولایت مرکزته نژدې په خدرسیمه داشغالګرو کمپاین دهشتاددو په ۲ مرمیودقیق وویشتل شوچې له امله یې دښمن ته دروند مالي اوځاني زیان واوښت. ۰۵-۱۱-۲۰۱۳

په لوګرکې کمپاین په هشتاددو وویشتل شو

د لوګرولایت دپل علم اړوند په خدرسیمه کې داشغالګروعسکرو کمپاین دهشتاددو په ۲ مرمیودقیق وویشتل شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۰۵-۱۱-۲۰۱۳

څرخ کې پوسته تربریدلاندي راغله

دلوګرولایت دڅرخ ولسوالۍ په ډبرسیمه کې دپولیسو په پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې ۱ ټانک او ۲ عسکر له منځه لاړل

دلوګرولایت مرکزپل علم ته نژدې په التمور سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ۲ عسکرووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره یوزغروال ټانک وویشتل شواوپوره تخریب شو. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته څېرمه ۲ یرغلګرو ژند له لاسه ورکړ

دلوګرولایت مرکزپل علم ته نژدې سیمه کې له یرغلګرو عسکرو سره درنه نښته ترسره شوه، په نښته کې ۲ یرغلګر مړه او ګڼ نور ټپیان شول. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

خروارولسوالۍ په ودانۍ برید، ۱ ټانک او ۷ عسکرووژل شول

د لوګرولایت دخروار ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال بریدترسره شو، په جګړه کې دولسوالۍ ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۲ تنه عسکرمړه او ۳ نورشدیدټپیان شول،

دجګړې په مهال سیمې ته نور عسکر د مرستې له پاره روان ووچې د جوزاري په سیمه کې یې یو زغروال ټانګ دچاودنې بشکار شواو بیا تر سخت وسلوال بریدلاندې راغلل. دبریدپه ترڅ کې د ټانګ په ویجاړېدوسربېره ۵ تنه عسکر مړه او ۲ تنه نورې مرګونې ټپیان شول. په جګړه کې ۲ تنه مجاهدین سرسر کې ټپیان شول. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

ازره کې ۵ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د ولګرولایت دازرې ولسوالې په جنترې سیمه کې په اربکیانو وسلوال بریدتر سره شو. په بریدکې ۲ اربکیان مړه او ۳ نور شدیدټپیان شول. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه ماین د ۲ اربکیانو ژوندواخیست

د ولګرولایت دپل علم اړوندپه حصارک کلي کې دچره دارماین چاودنې ۲ تنه اربکیان چې په ګزمه بوخت وو، ووژل او ۳ نورارېکیان یې سخت ژوبل کړل. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه اشغالګرویوملګي وګړی بندي کړ

د ولګرولایت مرکزته څېرمه په هوني سیدانو سیمه کې اشغالګرو په یو کورچاپه ووهله چې دتلاشي په مهال یې ورته زیات مالي زیان هم واړاوه او وروسته یې یو ۸۰ کلن سپینږیری له ځان سره یووړ. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه ۳ اشغالګروژل شول

دلوګرولایت مرکزته نژدې په الیاس خان کلا سیمه کې دوسلوال بریدپه مهال ۳ تنه اشغالګرعسکرمړه اوګڼ نورعسکرټپیان شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې په کمپاین میزایل وارشول

دلوګرولایت دپل علم اړوندپه خدرسیمه کې ددښمن په کمپاین میزایل وتوغول شول چې په ښنه شوې ځای ولګېدل اوله امله یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

لوګرکې په پوسته دلاسي بم برید. ۳ عسکرمړه اوژوبل شول

دلوګرولایت دپل علم اړوندپه خدسیمه کې داجیري اردوپه پوسته دلاسي بم بریدترسره شو. په بریدکې ۱ عسکرووژل شو او ۲ نور ټپیان شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه جلاچاودنې د ۵ عسکروژوندواخیست

دلوګرولایت مرکز ته نژدې په کجکي سیمه کې د اربکیانو په پلي ګزمه دچاودنې له امله ۲ اربکیان مړه اوګڼ نور ژوبل شول. دغه راز پل علم ته نژدې په حصارک سیمه کې داجیري رادوپه پلي ګزمه چره دارماین وچاودېد چې ۲ تنه عسکر یې ووژل. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه په کمپاین میزایل وارشول

دلوګرولایت مرکزته نژدې په خدرسیمه کې داشغالګرعسکروپه کمپاین ۲ میزایل وتوغول شول په ټاکلي هدف ولګېدل اوله امله یې دښمن ته دروند زیان واوښت. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه ۳ عسکروژوند له لاسه ورکړ

دلوګرولایت مرکزته څېرمه په نوي کلاسیمه کې دوسلوال بریدپه مهال داجیري اردو ۳ تنه عسکرمړه او ګڼ نورعسکر ټپیان شول. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه په پوسته برید. ۳ عسکرمړه اوژوبل شول

د لوګرولایت مرکز پل علم ته نژدې په پاتخواب شانه سیمه کې داجیري اردو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. په بریدکې ۱ عسکرمړه او ۲ نور شدید ټپیان شول. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

محمدآغه کې ۵ اشغالګروژوند له لاسه ورکړ

دلوګرولایت د محمدآغې ولسوالې په احمدزو کلا سیمه کې اشغالګرو عسکر دمجاهدینو په کمین کېوتل. په سخته ښښته ۵ تنه اشغالګر عسکر مړه اویوشمېر نور مرګونې ټپیان شول. وروسته په سیمه درنه بمباري وشوه

چې له امله يې ۲ تنه مجاهدين دشهادت لوړ مقام ته ورسېدل. اناالله وانا اليه راجعون. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

ازره کې عسکر له مجاهدينو سره يوخای شو

د لوګرولايت په ازره ولسوالۍ کې دار دويو تن عسکر (عزيز) د دعوت او ارشاد کميسيون د دعوت په پايله کې له مجاهدينو سره يوخای شو. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک کې په کمپاين ميزايل وارشول

د لوګرولايت دبرکي برک ولسوالۍ په خدرسيمه کې داشغالګرو په کمپاين ۲ ميزايل وتوغول شول په تاکلي هدف ولګېدل او له امله يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

محمدآغه کې په ټانک چاودنې ۴ عسکروژل

د لوګرولايت دمحمدآغه ولسوالۍ په شرفکان سيمه کې داجيري اردو په زغروال ټانک چاودنه وشوه. په چاودنه کې ټانک په پوره ډول ويجاړ او ۴ تنه عسکروژل شول. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه په کمپاين ميزايل وارشول

د لوګرولايت مرکزته نژدې په خدرسيمه کې داشغالګرو عسکرو په کمپاين ميزايل وتوغول شول چې په هدف ولګېدل او له امله يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۳-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته نژدې په کمپاين ميزايل وارشول

د لوګرولايت مرکزپل علم ته نژدې په خدرسيمه کې ددښمن په کمپاين ۲ ميزايل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له امله يې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه کمپاين په هشتادو ويشتل شو

د لوګر ولسوالۍ مرکزپل علم ته نژدې په خدرسيمه کې ددښمن کمپاين دهشتادو په ۲ مرميو دقيق وويشتل شو. دبريدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۶-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه اشغالګرو ۳ عام وګري بنديان کړل

د لوګرولايت د پل علم مربوط په داودخېلو سيمه کې اشغالګرو عسکرو د ملکي وګرو په کورونو چاپه ووهله او له وحشيانه تلاشي وروسته يې ۴ تنه کليوال له ځان سره يورل. ۲۶-۱۱-۲۰۱۳

ازره کې ۲ اربکيان مجاهدينو سره يوخای شول

د لوګرولايت په ازرې ولسوالۍ کې ۲ تنه اربکيان (اکاخېل او نصيب خان) د دعوت او ارشاد کميسيون د دعوت په برکت داسلامي امارت له مخالفت نه لاس په سر شول. ۲۸-۱۱-۲۰۱۳

لوګرمرکزته خبرمه جلاچاودنو ۵ عسکروژل

د لوګرولايت د پل علم اړوند په پورک سيمه کې د ګودااګيو عسکرو په پلي ګزمه دچره دارماين چاودنې ۲ تنه عسکر مړه اوبوشېر نور عسکر ژوبل کړل. دغه راز پل علم ته نژدې په نيازوکلاسيمه کې هم د ګودااګيو عسکرو په پلي ګزمه دچره دارماين چاودنه وشوه چې ۴ تنه يې ووژل. ۲۸-۱۱-۲۰۱۳

برکي برک کې په ټانک چاودنې ۴ عسکرمړه اوژوبل کړل

د لوګرولايت دبرکي برک ولسوالۍ دخدربازار ته نژدې داجيري اردو په زغروال ټانک ددرنې چاودنې له امله ټانک په پوره ډول تخريب. ۱ عسکرمړ او ۴ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۸-۱۱-۲۰۱۳

ازره کې ۳ اربکيانو ته مرګ ژوبله واوښته

د لوګرولايت د ازرې ولسوالۍ په کنډې سيمه کې داربکيانو په پلي ګزمه دوسلوال بريد په مهال ۱ اربکی مړ او ۲ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۹-۱۱-۲۰۱۳

ميدان وردک

سيداباد کې د سرګلولې دچاودېدله امله ۲ ماشومان شهيدان شول

د میدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ د سالارو په کلي کې د شیرني په نوم یو تن کلیوال په کور کې د هاوان زړه مرمۍ وچاودېد چې له امله یې ۲ ماشومان شهیدان ۲ ماشومان، ۱ ماشومه او ماما یې ټپیان شول. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې اشغالګرو ۱ کلیوال شهیدا و ۲ بندیان کړل

د میدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ د دوشاخېلو په سیمه کې اشغالګرو عسکرو د یو کلیوال په کور چاپه ووهله او د تالاشي په مهال یې ورته زیات مالي زیانونه واړول او په دې سربېره یې ۱ تن په خورا وحشت سره شهید کړ او ۲ یې له ځان سره یوړل. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې ۴ موټر تخریب او ۲ عسکر ووژل شول

دمیدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د شیخ اباد په عزیزالله خېلو سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ غټ ټانکر موټر پوره تخریب شول، په دې سربېره ۲ عسکر مړه او ګڼ نور ټپیان شول. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې چره دار ماین د ۳ عسکرو ژوند واخیست

د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د شیخ اباد په قاضي کلاسیمه کې داجیري اردو په پلې ګزمه د چره دار ماین چاودنې ۳ تنه عسکر ووژل. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې په موټر چاودني ۴ عسکر ووژل

د میدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ په عزیز کلاسیمه کې په اصطلاح دنظم عامه پولیسو په رینجر موټر دماین چاودنه وشوه. چاودني موټر تخریب کړ او پکې ناست ۴ تنه پولیس یې مړه او ۲ تنه نور یې ژوبل کړل. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

جفتو کې چاودني او برید دښمن ته مرګ ژوبله واړوله

دمیدان وردګ ولایت د جفتو ولسوالۍ د مردلي په سیمه کې داجیري اردو په عسکرو چاودنه او بریدونه ترسره شول. په پېښو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې په اربکیانو برید ترسره شو

دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ داونخي درې په جمزه خېلو سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال ۱ اربکی ووژل شو او بل سخت ژوبل شو. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې ماین د ۴ پولیسو ژوند واخیست

دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ په ماشین کلاسیمه کې په اصطلاح دنظم عامه پولیسو په پلې ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۴ تنه پولیس ووژل شول. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې اشغالګرو ۲ ملکي وګړي بندیان کړل

دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ د تنګي درې په رنجي خېلو سیمه کې اشغالګرو عسکرو د پیر ګل په نوم یو تن کلیوال په کورباندي چاپه وهه او له تالاشي وروسته یې پیر ګل او زوی له ځان سره یوړل. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

جفتو ولسوالۍ ودانۍ په هاوان وویشتل شوه

دمیدان رودګ ولایت دجفتو ولسوالۍ ودانۍ دهاوان په ۳ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې ودانۍ زیانمنه او پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

چک کې له دښمن سره نښته وشوه

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ په قولک سیمه کې اودګلي په سیمه کې داجیري اردو له عسکرو سره درنې نښتي ترسره شوې، په نښتو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل اما داوښتو تلفاتو په اړه یې دقیق معلومات نشته. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

میدان وردګ مرکز ته څېرمه ماین ۲ عسکر ووژل

دمیدان وردګ ولایت مرکزته نژدې سیمه کې دماین درنې چاودنې دترورېزم دوه تنه عسکر مړه اوګڼ نور عسکر ټپیان کړل. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

چک کې ددښمن په توه برید. ۷ عسکروژل

دمیدان وردګ ولایت دچک ولسوالی دزمان خیلو او خلیلي سیمو ته ددښمن عملیاتي قوه راغله چې دستنیدو په مهال دمجاهدینو له برید سره مخ شوه. دبریدپه ترڅ کې ۷ تنو عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول. په جګړه کې ۱ مجاهد ټپي شو. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

چک ولسوالی په ودانۍ اوګزمه بریدونه وشول

دمیدان وردګ ولایت دچک ولسوالی په ودانۍ دهفتاد پنج بریدترسره شوچې له املې یې ودانۍ پوره زیانمنه شوه. په عیني وخت کې دغني خیلوپه سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه هم وسلوال بریدترسره شوچې درنه مرګ ژوبله پکې ورته واوښته. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې په موټرچاودني ۳ اربکیان ووژل

دمیدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی دخواجګانوپه سیمه کې داربکیانو په رېنجرموټر د چړه دار ماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټرپوره تخریب شواوپکې ناستوپولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې دجاسوسي اداري کارمند ووژل شو

دمیدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالی مرکزته نژدې دجاسوسي اداري یوتن کارمند دغلچکي بریدپه ترڅ کې ووژل شو. ۲۲-۱۱-۲۰۱۳

اشغالګروپه نرخ کې یو ملکي وګړی شهید کړ

دمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالی په دینډو سیمه کې اشغالګرو عسکرودحاجي احمدجان په کور چاپه ووهله اشغالګرو عسکرو په کور کې دبې رحمانه تلاشي په مهال زیات مالي زیانونه واړول اودحاجي احمدجان وروربې په ډزو سره په شهادت ورساوه. انالله وانالیه راجعون. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

میدان وردګ مرکزته خبره ماین د ۲ عسکرو ژوندواخیست

بریدترسره شو. په بریدکې ۲ پولیس مړه او ګڼ نور ټپیان شول. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې یوپولیس ووژل شول

دمیدان رودګ ولایت دسیدآباد ولسوالی په ملي خپلوسیمه کې یوتن پولیس دمجاهدینو له خوا ووژل شو. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې اشغالګرودعامو خلکوموټرسایکلونه او دوکانونه وسوزول

دمیدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالی په بهادرخیلو کلي کې اشغالګرو عسکرودعامو خلکو په کورونوچاپه ووهله. عسکرو دوه دوکانونه هم په بمونو والوزول او مالونه یې افغان سپیشل فورس عسکرو چور کړل. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې دپولیسو موټر په ماین والوت

دمیدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالی په سالاروسیمه کې په اصطلاح دنظم عامه پولیسو رېنجرموټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټرپوره تخریب شواوپکې ناستوپولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰-۱۱-۲۰۱۳

سیدآباد کې دجاسوسي اداري کارمند ووژل شو

دمیدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالی مرکزته نژدې دجاسوسي اداري یوتن کارمند دغلچکي بریدپه ترڅ کې ووژل شو. ۲۲-۱۱-۲۰۱۳

اشغالګروپه نرخ کې یو ملکي وګړی شهید کړ

دمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالی په دینډو سیمه کې اشغالګرو عسکرودحاجي احمدجان په کور چاپه ووهله اشغالګرو عسکرو په کور کې دبې رحمانه تلاشي په مهال زیات مالي زیانونه واړول اودحاجي احمدجان وروربې په ډزو سره په شهادت ورساوه. انالله وانالیه راجعون. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

دمیدان وردګ ولایت مرکز ته نژدې په کشمیري کلاسیمه کې دځای په ځای شوي ماین چاودني ۲ تنه عسکر ووژل او ګڼ نور یې ژوبل کړل. ۲۴-۱۱-۲۰۱۳

سیداباد کې پوسته تر برید لاندي راغله

دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ دتنګي په ګلي خېلو سیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو. دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه معلومات نشته. ۲۷-۱۱-۲۰۱۳

جلګه ولسوالۍ ودانۍ تر برید لاندي راغله

دمیدان وردګ ولایت د جلګې ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دولسوالۍ ودانۍ زیانمنه شوه خو دمرګ ژوبلي په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۳۰-۱۱-۲۰۱۳

نرخ کې جلاچاودنو ۵ عسکروته مرګ ژوبله واړوله

دمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالۍ مرکز ته څېرمه داجیري اردو په پلې ګزمه دماین چاونه وشوه چې ۲ عسکر یې ووژل او ۲ نور یې مرګوني ټپیان کړل. دغه راز په دادل تنګي سیمه کې داربکیانو په پلې ګزمه دماین چاودني ۱ اربکی مړ او ګڼ نور ټپیان کړل. ۳۰-۱۱-۲۰۱۳

چک کې ۱۲ شریر اربکیان له قومندانانو او وسلو سره ژوندي ونیول شول

دمیدان وردګ ولایت دچک ولسوالۍ په لنګر ډاګ سیمه کې مجاهدینو داربکیانو یوه ډله سخته محاصره کړه او ۱۲ تنه اربکیان یې له دوو تنو قومندانانو (حبیب الله او مستري) سره ژوندي ونیول. مجاهدینو له اربکیانو سره ۳ میله پیکا ماشیندار، ۷ میله کلاشنکوفونه، یو شل ډزی او ګڼ نور مهمات ونیول. ۳۰-۱۱-۲۰۱۳

ننګرهار

پچیراګام کې ۳ اربکیان مړه اوژوبل شول

دننګرهار ولایت دپچیراګام ولسوالۍ په نازنو سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو. دبرید په مهال ۱ اربکی ووژل شو او ۲ نور شدید ټپیان شول. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

ګوشته کې اربکی په دراز کوف وویشتل شو

دننګرهار ولایت دګوشته ولسوالۍ اړوند دسین په غاړه یو اربکی په دراز کوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۱-۱۱-۲۰۱۳

پچیراګام کې په پوسته برید، ۴ پولیسوته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ماڼوګانو سیمه کې دپولیسو پوسته دمجاهدینو تر برید لاندي راغله. دبرید په مهال دپوستې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ پولیس ووژل شو او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

بټي کوټ کې ۳ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

دننګرهار ولایت دبټي کوټ ولسوالۍ د امبرخانې په وتکي سیمه کې داجیري اردو له عسکرو سره دنښتي په ترڅ کې داجیري اردو ۳ تنه عسکر مړه او ګڼ نور ژوبل شول. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

سپین غر کې ۴ ټانګونه تخریب او ۸ یرغلګر ووژل شول

دننګرهار ولایت د سپین غر او اچین ولسوالیو اړوند په عبدالخېلو بازار او جنجاشګه سیمو کې له یرغلګرو عسکرو سره خونړۍ نښته وشوه، په اوږدمهاله مخامخ نښته کې ۸ تنه عسکر مړه او ۱۱ تنه نور سخت ژوبل شول، په دې سربېره ۴ زغروال ټانګونه پوره تخریب شول، په جګړه کې یو مجاهد ټپي شو. ۰۲-۱۱-۲۰۱۳

بټي کوټ کې په پوسته برید، ۵ پولیس مړه اوژوبل شول

دننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ دباریکاب دپاټک په سیمه کې دپولیسو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۲ پولیس مړه، ۳ نور ژوبل شول اوله دې علاوه دپوستې ودانۍ زیانمنه شوه. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

اچین او سپین غر ولسوالیو ودانی په هلوان وویشتل شوې

د ننګرهار ولایت داچین او سپین غر ولسوالیو ودانی او ورته نژدې بیس په داسې حال کې دهاوان په ۱۰ مرمیو دقیق وویشتل شول چې ګڼ بهرني عسکر ورته راغلي وو. دبریدله امله ودانیو ته زیانونه واوښتل خو دمرګ ژوبلې په اړه یې شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ مرکز ته نژدې په هفو پولیسو چې دعملیاتو په موخه راوتلي وو وسلوال بریدونه ترسره شول، دجګړې په ترڅ کې ۱ پولیس مړ او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې یو عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ په میاګانو کلي کې داجیري اردو یو تن عسکر (عزت الله) دیو وسلوال بریدپه مهال ووژل شو. ۰۳-۱۱-۲۰۱۳

اچین کې په موټرچاودني ۸ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت داچین ولسوالۍ په اړونده سیمه کې دپولیسو رېنجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر تخریب، ۱ پولیس مړ او ۷ تنه نور شدید ټپیان شول. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

غني خیلو کې په پوسته دلاسي بمونو بریدوشو

دننګرهار ولایت دغني خیلوولسوالۍ په مار کوبازار سیمه کې د دښمن په پوسته دلاسي بمونو برید ترسره شو، په برید کې ۴ تنه پولیس ټپیان شول او دپوستې ودانۍ، ته هم زیان واوښت. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

مهمندره کې ۳ عسکر ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت دمهمندرې ولسوالۍ په ۲۸ سیمه کې له اجیري اردو سره نښته ترسره شوه، په نښته کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ ټانک، ۱ موټر او ۳ عسکر له منځه لاړل

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ دفارم سي په تکیا سیمه کې داجیري اردو په کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۳ عسکر مړه او ۷ نور سخت ژوبل شول. په دې سربېره ۱ زغروال ټانک او ۱ رېنجر موټر پوره تخریب شول. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

دچپرهار دولسوال معاون ووژل شو

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ په غرابادسیمه کې دولسوال معاون (محمدزمان) د غلچکي بریدپه مهال ووژل شو. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ ټانک تخریب او ۴ عسکر مړه اوژوبل شول

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ په فارم سي سیمه کې داجیري اردو په عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۲ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او ۱ زغروال ټانک تخریب شو. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۴ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ د فارم سي په تکیا سیمه کې داجیري اردو په عسکر وبرید ترسره شو، په برید کې ۴ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور ژوبل شول، دجګړې په ترڅ کې یوتن مجاهدشهید او یو تپي شو. اناالله وانااليه راجعون. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۵ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د ننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ په فارم سي سیمه کې له اجیري اردو سره خونړۍ نښته وشوه، په نښته کې ۵ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۷ تنه نور مرګونې ټپیان شول. دجګړې په مهال دوه تنه مجاهدین ټپیان شول. ۰۴-۱۱-۲۰۱۳

اچین کې دپولیسو موټر په ماین والوت

د ننګرهار ولایت داچین ولسوالی د پیښې خبر په قامیزي سیمه کې د سرحدي پولیسو کرولا موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شواوپکې ناستو پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۵-۱۱-۲۰۱۳

نازیانو کې دسپیشل فورس عسکر ووژل شو

دننګرهار ولایت دنازیانو ولسوالی په اړونده سیمه کې بیس ته څېرمه دسپیشل فورس عسکر (اورنګ) دغلچکي بریدپه مهال ووژل شو. ۰۵-۱۱-۲۰۱۳

مهمندري ولسوالي په ودانۍ برید. ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د مهمندري ولسوالي په ودانۍ دسپکواودرنو وسلو بریدترسره شو، په بریدکې ۲ پولیس مړه او ۵ نور شدید ټپیان شول، په دې سربېره ودانۍ هم پوره تخریب شوه. ۰۶-۱۱-۲۰۱۳

غني خېلوکې چاودنې ۳ عسکرووژل

دننګرهار ولایت د غني خېلوولسوالي په ۲۶مه ویاله چاتوفارم سیمه کې د ګډ دښمن په قطار کې دبنځ کړل شوي ماین چاودنې ۳ تنه عسکرمړه او ۴ تنه نور عسکر سخت ژوبل کړل. ۰۷-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې ۲ عسکر مجاهدینوسره یوځای شول

دننګرهارولایت په چپرهارولسوالي کې ۲ تنه عسکر (عبدالواحد او شیرآغا) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یوځای شول. ۰۷-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې داجیري اردو په عسکروبریدشول

د ننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالي د شغلدرې په سیمه کې داجیري اردو په ګزمه وسلوال بریدترسره شو. دبریدپه پای کې ددښمن عسکر د تلفاتو په لیدلو سره له سیمې نه په تښتنه بریالي شول. ۰۷-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې ۲ عسکر مجاهدینوسره یوځای شول

دننګرهارولایت په چپرهارولسوالي کې ۲ تنه عسکر (شفاعت او خیالي) چې داجیري اردو په لیکه کې پې دندې ترسره کولې له مجاهدینو سره یوځای شول. ۰۸-۱۱-۲۰۱۳

حصارک کې پوسته تربریدلاندې راغله

دننګرهار ولایت د حصارک ولسوالي په بوستان خېلو سیمه کې ددښمن په پوسته دسپکو او درنو وسلو بریدترسره شو. دبریدپه مهال ۲ عسکر ټپیان شول او دپوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه په عیني وخت کې دولسوالي د ودانۍ او بیس ترمنځ داجیري اردو یوتن عسکر دغلچکي بریدپه مهال ووژل شو. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ ټانک، ۱ موټر تخریب او ۵ عسکرووژل شول

دننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په فارم سي سیمه کې داجیري اردو په موټرېز کاروان وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ۵ تنه عسکرمړه او ۳ نور شدید ټپیان شول، په دې سربېره ۱ زغروال ټانک او ۱ رېنجر موټر پوره تخریب شول. ۰۹-۱۱-۲۰۱۳

غني خېلوکې ۱ ټیلر او ۲ ټانکونه تخریب شول

دننګرهار ولایت دغني خېلوولسوالي د ۲۵مې ویالې په مارکوسیمه کې ددښمن په انتقالي کاروان وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ۱ ټیلر موټر چې ۲ ټانکونه پکې بار وو وویشتل شوچې ټیلر او دوارې ټانکونه په پوره ډول تخریب شول. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

اچین ولسوالي په ودانۍ میزایل وارشول

دننګرهار ولایت داچین ولسوالي په ودانۍ په داسې حال کې ۲ میزایل وتوغول شول چې ګڼ شمېر عسکر عملیاتو ته د تلو په موخه راټول شوي وو. دبریدله املې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۱۰-۱۱-۲۰۱۳

سپین غرکې ۱ ټانک او ۲ عسکر له منځه لاړل

دننګرهار ولایت دسپین غر ولسوالي په بټن نومې سیمه کې په ګډو ځواکونو د درنو وسلو بریدترسره شو، په

بریدکې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې، وروسته ددښمن عسکرو په سیمه کې دهاوان ناتار ډزي پیل کړې چې له امله یې ۱ ماشوم ټپي او یو کور زیانمن شو، دغه راز په یاده سیمه کې ددښمن په عسکرو دیوه مخامخ بریدپه مهال ۲ عسکر مړه او ۴ نور سخت ژوبل شول، په دې سربېره یوزغروال ټانګ په پوره توګه تخریب شو، په جګړه کې ۲ مجاهدین سرسرکي ټپیان شول. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

بټي کوټ کې ۳ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهارولایت دبټي کوټ ولسوالۍ دفارم سي په سپین خوړ سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه دوسلوال بریدپه ترڅ کې ۳ تنوعسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

اچین کې ۱ ټانګ تخریب او ۷ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهارولایت داچین ولسوالۍ په دوسرکه سیمه کې له ګډدښمن سره نښته ترسره شوه. دښتي په مهال ۱ زغروال ټانګ پوره تخریب شواوپه دې سربېره ۷ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، وروسته په سیمه ددښمن الوتکو درنه بمباري وکړه خو چاته پکې زیان نه واوښت. ۱۱-۱۱-۲۰۱۳

حصارک کې په بیس اوپوسته ددرنو وسلو بریدونه وشول

دننګرهارولایت دحصارک ولسوالۍ په بوستان خېلو سیمه کې ددښمن پوسته دهشتاددو په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شو اوپه عیني وخت کې یې په بیس دهاوان بریدترسره شوچې ۴ مرمۍ یې په منځ کې ولګېدې، دبریدونو له امله ودانۍ تخریب شوې خو دمرګ ژوبلې په هکله شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

بټي کوټ کې ۳ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهارولایت دبټي کوټ ولسوالۍ دفارم چهارپه سي پای سیمه کې داجیري اردو په پلې ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ۱ عسکرووژل شو او ۲ نور شدیدټپیان شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

چپرهارکې ۶ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

دننګرهارولایت په چپرهارولسوالۍ ۶ تنه عسکر (روح الله، احسان الله، سردار ولي، طالب، نعمت او بریالی) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په نتیجه کې له مجاهدینو سره یوځای شول. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

حصارک کې بیس په هاوان وویشتل شو

دننګرهارولایت دحصارک ولسوالۍ مرکزته نژدې ددښمن بیس دهاوان په ۶ مرمیودقیق وویشتل شوچې له امله یې دښمن ته درانه مالي اوځاني تلفات واوښتل. ۱۲-۱۱-۲۰۱۳

مهمندرې ولسوالۍ په ودانۍ اوپوسته برید، ۶ عسکرمړه اوژوبل شول

دننګرهارولایت دمهمندرې ولسوالۍ په ودانۍ او ورته نژدې پوسته باندي وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ۲ عسکر مړه او ۴ نور شدیدټپیان شول، په دې سربېره ودانۍ هم تخریب شوه، په جګړه کې ۲ مجاهدین سرسرکي ټپیان شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

کامه کې په عسکرو ماین وچاودېد

دننګرهارولایت دکامې ولسوالۍ په ده غازي سیمه کې د ګوډاګۍ اداري په عسکرو ددرني چاودني له امله ۱ عسکر سخت ژوبل شو. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

خوګیاڼوکې ماین ۳ پولیس مړه اوژوبل کړل

دننګرهارولایت دخوګیاڼو ولسوالۍ په تعمیر سیمه کې دسرحدي پولیسوپه پلې ګزمه درنه چاودنه وشوه، دچاودني له امله ۱ پولیس مړ او ۲ سخت ژوبل شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

پچیراګام کې ۴ موټرتخریب او ۳ عسکرووژل شول

دننګرهارولایت دپچیراګام ولسوالۍ دلاندي صبرپه خرکي قلعه او چنارګي سیمو کې له کوډاګیوعسکرو،

اربکیانو او پولیسو سره درنه جګړه وشوه. دجګړې په ترڅ کې ۴ عسکر مړه او ۵ نور سخت ژوبل شول. په دې سربیره ۴ عرادې رېنجر موټر پوره تخریب شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ ټانک او ۳ عسکر له منځه لاړل

دننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په فارم سي سیمه کې داجیري اردو په موټریز کاروان وسلوال بریدترسره شو. دبریدپه ترڅ کې ۱ زغروال ټانک پوره ویجاړ او بل تخریب شوله دې علاوه ۳ عسکر مړه او ۳ نور سخت ژوبل شول. ۱۳-۱۱-۲۰۱۳

خوګیانو کې په کاروان برید. ۱موټر تخریب او ۳ اپولیس مړه وژوبل شول

دننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي په خوږه چینه سیمه کې داربکیانو او پولیسو په نظامي کاروان د سپکو او درنو وسلو بریدترسره شو، په بریدکې یورېنجر موټرپوره تخریب، ۴ پولیس مړه او ۹ تنه نور یې ژوبل شول شول. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

حصارک کې ۴ عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول

دننګرهار ولایت په حصارک ولسوالي کې ۴ تنه عسکر (رسول خان، امان الله، ادرو ګل او عبدالله) دجلب او جذب کمیسیون د دعوت په برکت داسلامي امارت په حقانیت پوه او له مجاهدینو سره یوځای شول. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې داجیري اردو په کاروان بریدونه وشول

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالي په مانو او داګو سیمو کې داجیري اردو په کاروان دوسلوال بریدپه مهال ګڼ شمیر عسکر وته مرګ ژوبله واوښته او ۱ زغروال ټانک تخریب شو. دغه راز په تریلي سیمه کې هم پرې وسلوال بریدترسره شوچې درانه تلفات پکې ورته واوښتل. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

اچین کې ماین صاحب منصب او ۲ پولیس ټپیان کړل

دننګرهار ولایت د اچین ولسوالي مرکز ته نږدې داچین او غني خیلو ترمنځ دغږدلي لارې ترڅنګ د پولیسو ټانک په ماین والوزول شو، چاودنې ټانک تخریب ۱ صاحب منصب او ۲ تنه پولیس مرګونې ټپیان کړل. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ موټر تخریب او ۴ عسکر مړه اوژوبل شول

دننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي د فارم سي او سپین خوږ ترمنځ سیمه کې ددښمن په کاروان وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته او ۱ رېنجر موټر پوره تخریب شو. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

پچیراګام کې په پوسته برید وشو

دننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي د هارون بابا په سیمه کې دسرحدي پولیسو په پوسته وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دپوستې ودانۍ پوره تخریب شوه او ۲ تنه پولیس پکې ټپیان شول. ۱۴-۱۱-۲۰۱۳

مهمنددره کې ددښمن ۲ اعسکروته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهار ولایت دمهمنددرې ولسوالي اړوند دباسول په سیمه کې له ګډاجیر دښمن سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې ددښمن ۵ تنه عسکر مړه او ۲ تنه نور سخت ژوبل شول. دجګړې په جریان کې یو تن مجاهدهم دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانا الیه راجعون ۲۰۱۳/۱۱/۱۵

دمهمنددرې ولسوالي مرکزباندې ولسوال بریدترسره شو

دننګرهار ولایت دمهمنددرې ولسوالي په ودانۍ دسپکو اودرنو وسلو بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته دسر اومال درانه تلفات واوښتل خوکره شمیره یې نده ترلاسه شوې. ۲۰۱۳/۱۱/۱۵

ګوشته کې دارېکیانو په پوسته وسلوال بریدترسره شو

دننګرهار ولایت دګوشتي ولسوالي په مربوطاتو کې دسیندپرغاړه داربکیانو په پوسته وسلوال بریدترسره

شو. په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمیره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۳/۱۱/۱۵

خوګیانو ولسوالي ودانۍ تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالي په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ودانۍ پوره تخریب شوه او ۱ پولیس ټپي شو. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

د جلال اباد هوایي اډه په میزایلو وویشتل شوه

د ننګرهار ولایت د جلال اباد په هوایي اډه ۲ میزایل وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګیدل او له املې یې دښمن ته درانه مالي اوځاني تلفات واوښتل. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

سرخرود کې ۶ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالي کې د ګوډاګي اداري له عسکرو سره درنه جګړه وشوه. په جګړه کې ۶ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او نور په ټپښته بریالي شول. د جګړې په مهال ۲ مجاهدین سر سر کې ټپیان شول. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

جلال اباد کې په موټر چاودنې ۷ پولیس مړه اوژوبل کړل

د جلال اباد ښار اړوند په فامیلو سیمه کې په اصطلاح د نظم عامه پولیسو رېنجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر تخریب، ۱ پولیس مړ او ۶ نور سخت ژوبل شول. ۱۶-۱۱-۲۰۱۳

چپرهار کې د اجیري اردو عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالي په اړونده سیمه کې د اجیري اردو یو تن عسکر تاج محمد دغلچکي برید په ترڅ کې ووژل شو. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

غني خېلو کې ۱ موټر او ۲ عسکر له منځه لاړل

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالي د ۲۵مې ویالې په مار کو سیمه کې د دښمن په نظامي کاروان وسلوال برید ترسره شو. د جګړې په مهال د دښمن ۱ غټ بار دار موټر وسوزول شو. ۲ عسکر مړه او ۳ نور سخت ژوبل شول. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

چاودنې د جلال اباد د دوهمې حوزې مدیر وواژه

د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې اکمالاتي بیس ته نږدې تکتیکي چاودنې د دوهمې حوزې مدیر معلم ظاهر وواژه او موټر یې په پوره ډول تخریب کړ. ۱۷-۱۱-۲۰۱۳

ده بالاکې ماین ۵ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالي په باغي بندچړۍ سیمه کې د پولیسو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له املې یې ۵ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې ۱ موټر تخریب او ۳ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په فارم سي سیمه کې په پولیسو وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۲ پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول. په دې سربېره ۱ رېنجر موټر تخریب شو. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

شیوه کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د شیوه ولسوالي په کندې سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. د برید له املې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي. ۱۸-۱۱-۲۰۱۳

ګوشتي کې په پوسته برید، ۴ اربکیان مړه اوژوبل شول

د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالي په اړونده سیمه کې د سیند په غاړه د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. د برید له املې د پوستې وداني زیانمنه او ۴ تنه اربکیان مړه اوژوبل شول. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

بتي کوټ کې اشغالګرو ۲ ملکي وګړي شهیدان کړل

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په ډاګه سیمه کې اشغالګر وعسکرو عام خلک سخت ووهل او تهدید یې

کړل. اشغالګرو له دې سره سره چې عامو خلکو ته زیات مالي زیانونه واړول دوه تنه ملکي وګړي هم په شهادت ورسول. انا لله وانا الیه راجعون ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

غني خیلو کې ماین موټر تخریب او ۲ اربکیان ووژل

د ننګرهار ولایت دغني خیلو ولسوالي په لوی خوږ سیمه کې دیر غلګرو د بیس اوسر حدي پولیسو د کنډک ترمنځ دار بکیانو ربنجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر تخریب، ۲ تنه اربکیان مړه او ۴ نور شدید ټپیان شول. ۱۹-۱۱-۲۰۱۳

نازیانو کې په پوستو بریدونه. ۷ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

